# سي ام اس (CMS)

## ليکوال : تېمورشاه یوسفزی

سي ام اس (CMS) د Content Management System کليمو څخه اخيستل سوي توري دي چي د وېب سايټونو په نړۍ کي پراخ کار ترې اخيستل کېږي.

له سي ام اس څخه د وېب سايټ د کنټرول او مديريت دپاره کار اخيستل کېږي . د سي ام اس په ذريعه کولای سئ په ډېري اسانۍ بېله دا چي کومه تخنيکي زده کړه مو کړې وي يو مطلب ، انځور ، ويډيو او يا هم کوم بل شی اضافه ، حذف او ياهم په متن کي بدلون راولئ.

**د سي ام اس (CMS) څو ګټې لاندي يادي سوي دي:**

**خپل واک :**

د هر چا دپاره سي ام اس يو غوره سيستم دی چي په ډېري اسانۍ يې مديريت او کنټرول کېدای سي، که تاسو غواړئ د خپل کاروبار دپاره د انټرنيټ په مټ رونق ورکړئ ، کولای سئ د سي ام اس په کارولو سره خپل وېب سايټ جوړ او د ټولو چارو واک يې له ځان سره ولرئ.

**ورځنی اپډيټ (Daily Update):**

سي ام اس دنويو مطالبو د پرليکه کولو دپاره ډېر ساده او غوره پلټفورم (Platform) لري. نوي مطالب ډېر اسانه او په لږ وخت کي پرليکه کولای سئ. که هر وخت انټرنيټ ته لاسرسی نه لرئ يا هم مصروفيت مو ډېر وي او نه سئ کولای چي ورځنی اپډيټ ترسره کړئ کولای سئ څو بېلابېل مطلبونه د وخت په نظر کي نيولو سره داسي عيار کړئ چي هره ورځ يو يو مطلب د وېب سايټ پرمخ په اتومات ډول را څرګند سي- دا کار د جوملې (Joomla) او ورډ پرس (Wordpress) په سي ام اِسونو کي شونی دی.

**د مخونو نه محدوديت :**

سي  ام اس کي د پاڼو د جوړولو ضرورت نسته، بلکې هر مطلب چي خپروئ ورته یوه پاڼه په اتومات ډول په هغه خپل ټاکل سوې برخه کي جوړېږي، یعني د مخونو (Pages) د جوړولو محدویت پکي نسته.

## د اړیکو نیولو ساده لار:

د سي ام اس یوه بله ښېګڼه دا ده چي ستاسو د ویب سایټ کتونکي او لوستونکي کولای سي د ویب پاڼي په مټ په مستقیم ډول برېښنالیک درولېږي  یعني د دې ضرورت نسته چي هغه دي خپل شخصي برېښنالیک اکونټ ته ننوزي او له هغه ځای څخه دي تاسو ته برېښنالیک ولېږي.

## څه چي غواړئ ښکاره یې کړئ:

د مطالبو په لیدو کي کولای سئ د لاسرسي محدودیت و ټاکئ یعني بعضي مطالب دي  بې له اجازه ورکړل سوو کسانو هرچا ته ونه ښودل سي. په ډېرو سي  ام اِسونو کي دا کار شوني دی  چي کوم مطلب دي عام (Public) او کوم مطلب دي  و اجازه ورکړل سویو کسانو (Authorized Users) ته وښودل سي.

## امنیت :

د موادو د ذخیره کولو لپاره بېلابېل میتودنه شتون لري، یو یې دا دی چي په ځانګړي فایلونو کي مطالب خوندي کیږي او بل یې په یوې دېټابېس کي. د دېټابېس امنیت یې نسبت و دا بل ډول ته ښه دی ځکه په  اسانۍ سره ستاسو و اپلوډ سویو مطالبو ته د لاسرسي محدودیت ورکوي،چي په سي ام اِسونو کي هم له دېټابېسونو څخه تر ډېره کار اخیستل کیږي.

## د نظر ورکولو غوره لاري:

د سایټ کتونکي کولای سي  پر مطلب نظر ورکړي او یا هم هغه مطلب «خوښ» او یا « نا خوښ» کړي.

## ګډ کار:

**په سي  ام اِس کي څو کسان کولا ی سي په يو وخت مطلبونه« انلاين» يا  حذف کړي يا خو بدلونونه پکښي راولي .**

## د څېرې تغيير:

**په ډېري اسانۍ کولای سئ د ويب سايټ و څېرې (نخښې) ته تغييرورکړئ.**

**د سي ام اِس نوري ښېګڼې په راتلونکو مطالبو کي ولولئ.**

***

## لس غوره سي ام اِسونه

**لاندي د مشهورو سي ام اسونو او د هغو د رسمي انټرنيټ پاڼو لست درکړل سوی دی:**

**۱) ورډ پريس (WordPress)**

http://wordpress.org

**۲)ډروپال (Drupal)**

http://drupal.org

**۳) جوملا (Joomla)**

http://www.joomla.org

**۴) اِکسپريشن انجين (Expression Engine)**

http://ellislab.com/expressionengine

**۵)ټکسټ پټرن (Text Pattern)**

http://textpattern.com

**۶) راډينټ (Radiant)**

http://radiantcms.org

**۷)کروشي سي ام اس (Crushy CMS)**

http://www.cushycms.com/en

**۸)سِلور سټريپ (Silver Stripe)**

http://www.silverstripe.org

**۹) الفرسکو (Alfresco)**

http://www.alfresco.com

**۱۰) ټايپو لايټ (TypoLight)**

https://contao.org/en

***

## ولي د محتویاتو دسمبالښت سیستم (CMS) ته اړتیا لرو؟

## Why do we need to use CMS?

د سي اِم اِس (CMS) کارول د پخوانیو انټرنیټ پاڼو په پرتله چې ثابتي پاڼي (Static Pages) یې وې د سوداګریزو او اقتصادي پلوه ډېر ګټمن ګڼل کېږي، په دې مانا چې کله تاسو له سي ام اس څخه کار اخلئ، هر وخت چې زړه مو وي ښېله کومي تخنیکي زده کړي هغه اپډیټ او یا هم په زړو موادو کي يې تغییرات راولئ، یعني ضرورت ودې ته نه لرئ چې کوم وېب ډیزاینر ته مراجعه وکړئ او له هغه څخه د مرستي غوښتنه وکړئ ، پر دې سربېره تاسو کولای سئ د جوملې پر جوړ سوي سایټ داسي سافټ وېرانستال کړئ چې مواد د وخت په نظر کي نیولو سره بدل را بدل کړي.

### د انسټالېشن نه مخکي ضرورتونه :

مخکي له دې چې د جوملې انسټالیشن پیل کړئ خپل هاستینګ چیک کړئ چې لږ تر لږه لاندني خصوصیات پکښي موجود وي :

### لومړی :

هاستینګ (Hosting)

۱) Php نسخه : ۵,۲ یا پورته .

۲)MySQL نسخه : ۵,۰۴ یا پورته.

۳)اپاچي نسخه : ۱,۳

### دوهم :

مای سکویل (MySQL) دېټابیس :

د جوملې د انسټالولو پر وخت ستاسو څخه دډېټابېس نوم، هاسټ نوم، یوزرنیم (کارننوم) او پسورډ غوښتل کېږي، نو باید دغه لاندي څو ځیزونه چمتو ولرئ:

۱) دېټابېس نوم (Datebase)

۲)هاسټ نوم (HostName)

۳)کارن نوم (Username)

۴) د کارن نوم شفر (Password)

## دریېم :

## اف ټي پي (FTP)

د جوملې فایلونه باید و سرور (ستاسو د وېب سایټ و فضا (Space) ته پورته سي، دا چي د جوملې فایلونه ۷ تر ۸ ایم بي پوري دي،نو اړیاست چي دا فایلونه د یو اف ټي پي (FTP) سافټ وېر په ذریعه پورته کړئ، لاندي د مشهورو اف ټي پي سافټ وېرونو ادرسونه درکړل سوي دي . ( د کتاب لیکوال تاسو ته فایلزیلا Filezilla د کارولو سپارښتنه کوي).

## اف ټي پي سافټ وېر له لاندي ویب سایټونو څخه کښته کولای سئ:

فایل زیلا (FileZilla)

http://filezilla-project.org

سمارټ اف ټي پي (Smart FTP)

http://www.smartftp.com

فایر اف ټي پي (FireFTP)

http://fireftp.mozdev.org

وین اس سي پي (WinSCP)

http://winscp.net/eng/index.php

سایبر ډک (Cyber Duck )

http://cyberduck.ch

کیوټ اف ټي پي (CuteFtp)

http://www.globalscape.com

**يادونه : دا سافټ وېر په مک اپرېټېنګ سیسټم کي هم کار کوي .**

**کافي کپ :**

http://www.coffeecup.com/free-ftp

***

# د جوملې د محتوياتو سمبالښتي سيستم

# Joomla Content Management System

د جوملې محتوياتي سمبالښتي سيستم يو داسي وېب پوستکالی(سافټ وېر) دی چي په پوره ډول د يوې وېب پاڼې د جوړښت،سمبالښت،اولېږون ملاتړکوي. جومله (Joomla) د وېب پاڼو د سمبالښت د اړتياوو وړ ټولو توکو لرونکی سيستم دی. «سي ايم اس»د يوې وېب پاڼې د ژوندانه څرخ د جوړښت نه پيل بيا تر ړنګېدو پوري ګرځوي . همدا رنګه ويلای سو چي داسيستم د دې وړتيا لري چي د سايټ جوړښت،دپاڼو د ښودلو او د هغوی اړيکي د اصلي مېنو سره سمبال کړي؛ په لنډه توګه ويلای سو چي جوملا يو پوستکالی (سافټ وېر) دی چي نن ورځ د نړۍ په کچه د پرمخ تللي وېب پاڼو د جوړولو دپاره کارول کېږي، د دې سره سم د جوملې يوه بله ښېګڼه دا ده چي د مديريت (Administration) برخه لري، دا برخه د انټرنيټ پاڼي و پاڼوال (Administrator) ته اجازه ورکوي چي د وېب پاڼي په محتوياتو کي بدلون، حذف او زياتوني راولي . د جوملې د سيستم ټول اړخونه په راتلونکو مطالبو کي توضيح سوي دي .

## د جوملې سي ام اس کومي وړتياوي لري؟

تر دې مهاله بازار ته د جوملې بېلابېلي نسخې وړاندي سوي دي ، چي هره نسخه يې تر بلي د کار په لحاظ په وړتياوو کي توپير سره لري ، خو په ټولو کي دا خصوصيات سره شريک دي .

- د Administrator له خوا د ټول سايټ کنټرول.
- د يوزرونو (Users) له خوا پر اپلوډ سويو اطلاعاتو د Administrator واک، کولای سي هغه حذف يا ايديټ او کړي.
- د خوځنده (Dynamic) پاڼو جوړول.
- د برېښنايي تجارت او پلور د پاره بېلابېلي اسانتياوي.
- د برېښناليک په مټ د اطلاعات لېږلو «فورمو» جوړول (Forms)

- د لټون اسانتیاوي.
- د ویب پاڼو ډاډمن امنیت ( په هرو څو میاشتو کې د امنیت د ښه والي دپاره د جوملې د رسمي ویب پاڼې له خوا امنیتي پینې (Security Patches) وړاندي کېږي).
- د لیدل سویو مطالبو احصائیه (User Statistic).
- د ټولپوښتني سیستم.
- د متني او انځوریزو فایلونو چاپ او پي ډي اف (PDF) ته د هغوی اړول .
- په یوه وخت د څو کسانو له خوا د سایټ پر محتویاتو کار ( په یوه وخت څو کسان کولای سي د ویب سایټ پر محتویاتو کار وکړي، یعني څو کسان کولای سي په یوه وخت سایټ ته ننوزي او مطالب خپاره یا حذف کړي یا هم بدلونونه پکي راولي).

***

# د جوملې نسخې

## Joomla Versions

څرنګه چي دټولو پوستکالو (Software) د پرمختګ بېلابېلي نسخې سته، دجوملې دپاره هم دغه ډول نسخې، چي دهمدې سمبالښتي سیستم د پرمخ بېوونکي ټیم له خوا بازار ته تر دې مهاله وړاندي سوي، په دې ډول دي:

دجوملې لومړۍ نسخه د ۲۰۰۵ م. کال د سپتمبر په لومړۍ نېټه اعلان سوه،دا هغه مهال و چي خلکو ورڅخه ډېر لږ کار اخیستی.

- ✓ دجوملې د بعضو نسخو لنډه یادونه:

| نسخه | د خپرېدو نېټه | شننه |
|---|---|---|
| ممبو ۴,۵,۲ | ۱۷ فیبروری ۲۰۰۵ | د ممبو اخیرنی بشپړه نسخه |
| جوملهx.۱ | سپتمبر ۲۰۰۵ | د ممبو دا وروستی نسخه ده ، او د دې نسخې د ستونزو په بشپړولو سره یې نوم وجوملې ته واوښت. |
| جومله ۱,۱ | ۲۰۰۵ م بیا تر ۲۰۰٦ م کال پوري | د یوزر انټرفیس (User Interface) ، او مدیریت د توانایی ترڅنګ د ژبو داستعمال د پاره دویب ونړی ته معرفي سو. |
| جومله ۱,۳ | نېټه یې څرګنده نه ده | د جوملې د نورو توانایيو سره معرفي سوه. |
| جومله ۱,۷ | ۲۰۱۱ د جولای ۱۹ | |
| جومله ۲,۵ | 24-01-2012 | |
| جومله نسخه : ۳,۰ | 27-09-2012 | |

***

# د جوملې ۲,۵ نسخې پوښۍ

## Joomla 2.5 Folders

کله چي د لومړي ځل د پاره د جوملې ۲,۵ نسخه له ويب سايټ څخه کښته (ډاونلوډ) کړئ، اړياست چي د زيپ پوښۍ (فولډر) څخه يې راوباسئ، د زيپ پوښۍ څخه تر ايستلو وروسته تاسو څو پوښۍ او فايلونه وينئ، چي د هر يوه توضيح لاندي سوې ده :

**:Index.php**

د جوملې په پوښۍ کي دا فايل د جوملې له اصلي فايلونو څخه ګڼل کېږي، ځکه د همدې فايل په مټ نور فايلونه را بلل کېږي، که دا فايل نه وي، د جوملې لومړۍ پاڼه نه ښکاري.

**:Administrator**

په دې پوښۍ کي د «کنټرول پانل» اړوند فايلونه شتون لري.

**:Cache**

د HTML په بڼه د پاڼو د چټک پرانيستني په موخه د جوملې له خوا چمتو سوي دي، څو ضرورت و دې ته نه وي چي د «ډېټابېس» څخه هر ځل پاڼي پرانيستل سي.

**:Component**

په دې پوښۍ کي ټول هغه کمپونينټونه (Components) ځای په ځای سوي چي د جوملې په ويب سايټ کي کار سوي، نوي کمپونينټونه هم دلته تر«انسټالېدو» وروسته ذخيره کېږي.

**:Images**

په دې پوښۍ (فولډر) کي دجوملې انځورونه ذخيره سوي.

**:Includes**

په دې پوښۍ کي بعضي php فايلونه ذخيره سوي چي د زړو نسخو د اجراء د پاره کار ترې اخيستل کېږي.

**:Installation**

په دې پوښۍ کي دجوملې د انسټالېدو فایلونه ذخیره سوي دي، کله چي جومله پر کوم «هاسټ» انسټال سي، دا پوښۍ باید د امنیتي ملحوظاتو په خاطر ترې لیري یا نوم ته یې تغییر ورکړل سي.

**:Language**

په دې پوښۍ کي د جوملې د ژبو فایلونه ذخیره سوي، کله چي جومله و نوي ژبي ته ژباړل کېږي، د هغې ټول فایلونه باید په دې پوښۍ کي ذخیره سي، په عام ډول په دې پوښۍ کي د انګرېزي ژبي فایلونه ذخیره سوي وي.

**:Libraries**

په دې پوښۍ کي د جوملې اصلي امکانات او کتابتونونه(کوډونه) ذخیره سوي دي.

**:Media**

په دې پوښۍ کي په رسنۍ اړوند فایلونه ذخیره کېږي، د مثال په توګه کله چي د یوه متن سره انځور خپور کړئ،انځور باید لومړۍ ودې پوښۍ ته د «کنټرول پانل» له لاري ذخیره کړئ او بیا یې د متن سره خپور کړئ.

**:Modules**

په دې پوښۍ کي د جوملې ماجولونه ذخیره سوي دي.

**Plugins:** د جوملې په دې پوښۍ کي کار سوي پلاګینونه ذخیره سوي دي، او نوي پلاګینونه هم تر انسټالېدو ورسته په دې پوښۍ کي ذخیره کېږي.

**:Templates**

په دې پوښۍ کي د جوملې «ټیمپلیټونه» ذخیره سوي دي، ټیمپلیټ د ویب سایټ د مخپاڼې قالب ته ویل کیږي، نوي ټیمپلېټونه تر انسټالېدو وروسته په همدې پوښۍ کي ذخیره کیږي.

**:Tmp**

په دې پوښۍ کې هغه فایلونه ځای نیسي چې د موقت وخت دپاره جوړیږي.

***

# د جوملې انسټالېشن

## Joomla Installation

مخکي له دې چي د جوملې پر انسټالیشن لاس پوري کړئ، ځان ډاډه کړئ چي د جوملې ټول فایلونه مو د «هاستینګ» په روټ فولډر (Root Folder) کي د  زیپ  څخه تر ایستلو وروسته ذخیره کړي وي.

لومړ ی:  لاندي ادرس د پرانیستي «بروسر» په ادرس بار (Address Bar) کي ورکړئ.

http://yourwebsite.com/index.php


دلته د Yourwebsite پر ځای خپل د ویب پاڼي د «ډومین» نوم ورکړئ.

که مو فایلونه د «هاستینګ» د «روټ فولډر» نه پرته په کوم بل فولډر کي ذخیره کړي وي، د هغه فولډر ادرس په لاندي ډول ورکړئ.

http://yourwebsite.com/foldername/index.php


دلته د Yourwebsite پر ځای خپل د ویب پاڼي او د foldername په ځای کي د هغه فولډر نوم ورکړئ چي تاسو پکښې د جوملې فایلونه ذخیره کړي دي .

که پورتنی یاد سوی ادرس مو په سمه توګه  ټایپ کړئ وي، لاندي غوندي کړکۍ به درته ښکاره سي.



له دي کړکۍ څخه خپل دخوښي وړ ژبه انتخاب او د Nextتڼۍ کښېکاږئ.

دوهم : دې کړکۍ کې ستاسو د «هاستېنګ» وړتیاوې او سافټ ویرونه چیک کیږي، او د چیکولو وروسته یې ځواب د هغه ومخ ته وایې، که صحیح وو، د Yes او که غلط وو د No الفاظ درته راوړي ، د ستونزې د نه شتون په صورت کې د Next تڼۍ کلیک کړئ.




درېیم : د GNU لایسنس متن ولولې او د موافقې په صورت کې د Next تڼۍ کښېکاږئ تر څو بل پړاو ته ولاړسئ.

څلورم : Databasesد کړکۍ

په را ښکاره سوي کړکۍ کې د دېټابیس د تنظیماتو دپاره خپل دېټابیس مالومات ذخیره کړئ.

دې کړکۍ کې دغو مالوماتو ته ضرورت سته :

د Hostname په خالي خونه کې Localhost ټایپ کړئ.

د UserName په خالي خونه کې  هغه کارن نوم (UserName) ورکړئ چې تاسو مخکې په MySQL کې جوړ کړئ وي.


د Password په خالي خونه کې د پورتني يوزر شفر وليکئ .

د Database Name په خالي خونه کې د هغه ډېټابېس نوم ورکړئ چې تاسو د «هاستینګ» په MySQL کې جوړ کړئ وي.




د Next تڼۍ کښېکاږئ .

پنځم : د FTP Configuration په کړکۍ کې د Enable Ftp Layer مخې ته د No «کمانډ» انتخاب او د Next تڼۍ ته زور ورکړئ.



شپږم : د Configuration کړکۍ

دې پړاو کي لاندې غوښتل سوي مالومات ورکړئ :

Site Name: د دې مخې ته د خپل ويب سايټ نوم ورکړئ، دا نوم به د «بروسر» پر TitleBar را څرگنديږي.

Your E-mail: په دې ځای کي خپل د برېښناليک پته ورکړئ.


Admin UserName:  د پازوال د پاره کارن نوم ورکړئ، په ساده توگه تاسو کولای سئ پکي admin وليکئ، خو که امنيتي انديښنه لرئ، بيا کولای سئ يو داسي نوم غوره کړئ چي ډېر سخت وي، د سخت نوم دپاره تاسو کولای سئ، توري، اعداد او بېلابېل سمبولونه وکاروئ.

بېلگه : admin.123@sqig

Admin Password: د خپل کارن نوم (UserName) د پاره پسورډ ورکړئ، د پورته يوزر او د دې پسورډ په ذريعه وروسته کولای سئ د سايټ و شا برخي (Backend) ته ننوځئ.

Confirm Admin Password:  د دوهم ځل د پاره پورتني پسورډ تکرار کړئ.

په دې کړکۍ کي بل کار ته ضرورت نسته، يوازې  د  Next تڼۍ کښېکاږئ.



اووهم : د Finishکړکۍ :

دا د انستالېشن وروستۍ کړکۍ ده، اوس د جوملې په پوښۍ کې د انستالېشن په نوم پوښۍ ایسته کړئ چې وکولای سئ د خپل سایټ مخ خوا(FrontEnd ) او شا خوا(Backend) ووینئ.

## د جوملې د جوړښت عنصرونه

د جوملې سي ام اس (CMS) د لاندنیو عنصرونو څخه متشکل دئ.

۱) کمپونینټ (Component1).

۲) ماجول (Module).

۳) پلاګین ( Plugin).

۴) کونده یا قالب (Template).

۵) ژبه (Language).

کمپیونینټ (Component)

هر سمبالښتي سیستم باید وسعت بخښونکی وي او د دې په ترڅ کې د ډېرو کارونو وړتیاوي ولري. یو سمبالښتي سیستم په ساده توګه، هغه څه چې یو وېب سایټ جوړونکی یې غواړي ورڅخه کار واخلي ، نه لري، نو په همدې علت هر پیاوړی سمبالښتي سیستم ځان ته د کمپونینټونو په نامه وړتیاوې لري.

کمپونینټ (Component) یو کوچني پروګرام ته ورته دی چې د Php او XML فایلونو څخه جوړ سوی دی.

[1] په قاموسونو ټکی کام د پښتو-کمپیوټر په قاموس کې لاندې الفاظ داسې ژباړل سوي :

Pashto Computer Dictionary [Wahidullah Kaleem]

Module د پاره رغښلګه ، Component دپاره رغتوک، او Plug in لپاره د لګون الفاظ ، خو ترڅو چې دا الفاظ عام سوي او د یوې قانوني مرجعې له لورې منل سوي نه وي ، کارول به یې د لوستونکو دپاره ستونزمن وي ، نو د همدې دلیل په نظر کې نیولو سره اکثره په کمپیوټر اړوند لغتونه په هم هغه خپل شکل په پښتو راوړل سوي دي.

په جومله کي هر ډول «ماجول» چي انسټالیږي د xml و فایل ته ضرورت لري .

کمپونینټ دوې برخي لري: لومړی برخه یې هغه ده چي د پاڼي پر مخ یا لوستونکو دپاره د لیدو وړ ده او بله یې هغه ده چي د سایټ پازوال (Administrator) یې د تنظیماتو دپاره کاروي، چي یوازي و هغه ته د لیدو وړ وي .

کله چي جومله انسټال سي بعضي کمپونینټونه (Components) هم ورسره انسټال سوي وي ، چي مهم یې دا لاندي دي :

- ټولپوښتنه (Polls)
- لټون (Search)
- اړیکي (Contacts)
- کوچني انځورونه (Banners)

***

## د نوي کمپونینټ انسټالول

## (Installing of New Component)

**لومړی : د جوملې ویب سایټ و شا برخي (Backend) ته ننوزئ.**

**د ننوتو لپاره لاندي لینک وکاروئ.**

**http://www.mysite.com/administrator**

**دلته د mysite پر ځای د خپل ویب پاڼي د ډومین نوم ورکړئ.**

**دریم : د Extensions مېنو کلیک او د Install[2] کمانډ کلیک کړئ.**

**اوس خپل ډاونلوډ سوی کمپونینټ د Upload Package File لاندي د Browse[3] تڼۍ په کلیک وهلو سره انتخاب او د Upload File & Install په کښېکاږلو سره یې انسټال کړئ.**

**تر انسټالېدو و روسته به تاسو ته د کمپونینټ د کامیابه انسټالیشن پیغام درکړي.**

***

## ما جول (Module) څه دئ؟

---

د2 جوملې په ۱,۵ نسخه کي د دې لغت سره جوخت د Uninstall لغت هم راغلی دی .

د3 جوملې په ۱,۵ نسخه کي ددې لغت پر ځای Choose راغلی دی.

ماجول (Module) د پروګرام یوه قطعه ده چې د Php او XML فایلونو څخه جوړ ه سوې ده . د ماجول جوړښت د php فایلونو په ذریعه ترسره کیږي چې د ماجول اصلي زړه(هسته) جوړوي او د xml په فایل کې د ماجول اصلي ځانګړتیاوې او تنظیمات ځای نیسي .
په جوملّه کې هر ډول ماجول چې انسټالیږي د xml و فایل ته ضرورت لري .

جومله په خپل ځان کې د بې ساري ماجولونو ( Modules) د انسټالېدو وړتیا لري، خو هرڅومره چې ماجولونه پکې انسټالیږي په هم هغه اندازه د سایټ سرعت کمیږي، یعني هر څومره چې سایټ سپک وي، هغومره یې د خلاصېدو سرعت چټک وي.
د جوملې څخه لګول سوي (انسټال سوي) ماجولونه هم کولای سئ حذف کړئ، خو کله کله د هغوی د ایسته کېدو پر وخت جومله له یو لړ ستونزو سره مخامخ کیږي، نو اړینه ده چې یوازې هغه ماجولونه انسټال کړئ چې ورته ضرورت لرئ.
ماجولونه پر دوو ډولونو تقسیم سوي دي، یو یې هغه ماجولونه دي چې د ویب سایټ پرمخ څرګندیږي او کتونکې یې لیدلی سي او بل یې هغه دي چې د ویب سایټ په مدیریتي برخه کې لګول کیږي او یوازې د سایټ مدیر یا پازوال ته د لیدو وړ وي.

په جومله کې د لامهمو ماجولونو څخه کولای سو د مېنو ماجول[4]، د ننوتو ماجول [5]، د لټون ماجول[6] او ... یاد کړو.
د ماجول د انسټالولو، فعالولو، غیرفعالولو او حذفولو د پاره دغه لاندې لارښود ته ځیر سئ :

[4] Menu Module
[5] Login Module
[6] Search Module

# د ماجول انستالېشن

# Module Installation

**لومړی : د جوملې ويب سايټ و پاڼوال برخي ته د يوزر او پسورډ په ورکولو ، ننوزئ .**

**د ننوتو لپاره لاندي لينک وکاروئ.**


**http://www.mysite.com/administrator**

**دلته mysite پر ځاى د خپل ويب پاڼي د ډومين نوم ورکړئ.**

**دريیم : د Extensions مېنو کليک او د[7] Install کمانډ کليک کړئ.**

**اوس خپل ډاونلوډ سوى ماجول د Upload Package File لاندي د Browse[8] تڼۍ په کليک وهلو سره انتخاب او د Upload File & Install په کښېکاږلو سره يې انستال کړئ.**

**تر انستالېدو و روسته به تاسو ته لاندي ډول د کاميابه انستالېشن پيغام درکړي.**





---

د7 جوملې په ۱,۵ نسخه کي د دې لغت سره جوخت د Uninstall لغت هم راغلى دى .

د8 جوملې په ۱,۵ نسخه کي ددې لغت پر ځاى Choose راغلى دى.

که په ماجول کې د XML فایل شتون ونه لري یا نوموړی فایل خراب سوی وي، لاندي ډول پیغام سره به مخامخ سئ.




## د انستال سوي ماجول فعالول

## Enabling Installed Module

**کله چي یو ماجول د لومړي ځل د پاره انستال سي، غیر فعال وي، د هغه د فعالولو دپاره لاندي لارښود عملي کړئ.**


**لومړ ی:په پورتنی مینو کي د Extensions څخه Module Manager کلیک کړئ.**

**دوهم : د Filter له لاري د خپل نوی انستال سوي ماجول نوم ورکړئ چي ښکاره یې کړي.**

**درېیم : اوس کولای سئ خپل ماجول د پوزیشن (Position[9]) په ټاکلو سره Enable کړئ، د Enable کولو دپاره یوازي پر سور رنګ کلیک وکړئ.**

**یادونه : تر Status لاندي که د ماجول رنګ سور و، ماجول غیر فعال (Disable) او که زرغون و نو فعال (Enable) دی.**

9د Position (ځای) په اړه د "جوملي د ویب پاڼي پوزېشن" مطلب ولولئ.




## د ماجول غير فعالونه

## Disabling Module

خرنګه چي ماجول فعال (Enable) کيږي، هم هغه ډول يو ماجول غير فعالولی (Disable)سئ.
په عام ډول د يو  فعال ماجول رنګ زرغون وي، او کله چي يو ځل ور باندي کليک وکړئ، شکل يې و سور رنګ ته ا وړي، يعني د يو غير فعال ماجول رنګ سور وي.

***

## محلي سرورونه

## Localhost Servers

د جوملې سي ام ايس په دوه ډوله انستالېداى سي، لومړى په انټرنيټ کي د هاسټ په مټ او دوهم په ځايي کمپيوټر کي ( کوم کمپيوټر چي انټرنيټ ته وصل نه وي).

مخکي له دې چي يو ويب سايټ د خپل ډومين و فضا ته اپلوډ کړئ، ښه به دا وي چي يو ځل يې په خپل شخصي کمپيوټر کي ډيزان کړئ او بيايې و فضا ته اپلوډ کړئ،دا کار ځو ګټې لري:

- کله چي د سايټ پر کومي برخي کار کوئ، ژر کولاى سئ د هغه نتيجه د Refresh په وهلو سره وګورئ.
- د سايټ و کوډونو او مديريتي برخي ته مو لاسونه ژر رسېداى سي.
- بېله انټرنيټ څخه کولاى سئ بشپړ سايټ ډيزاين کړئ.
- د محلي سرورونو په استفادې د سايټ ډيزاين لږ وخت ته اړتيا لري.

دا مهال په انټرنيټ کي ډېر محلي سرورونه سته، چي لاندي يې د بعضو مشهورو هغو نومونه اود هغوى اړوند ويب پاڼي راوړل سوي دي :

١) ومپ سرور (Wamp Server).

ويب پاڼه : http://www.wampserver.com/en

٢) اکس امپ سرور (Xampp Server).

ويب پاڼه :http://www.apachefriends.org/en/xampp.html

٣)ممپ (Mamp)

ويب پاڼه : http://www.mamp.info/en/index.html

دا محلي هاسټ سرور يوازې په مکينتاش سيستم کي کار کوي.

٤) ايزي پي اچ پي (Easy Php)

ویب پاڼه :http://www.easyphp.org

دلته موږ په شخصي کمپیوټر کي کوښښ کړئ چي د جوملې انسټالیشن د Easy Php په مټ توضیح کړو.

***

## په محلي سرور کي د جوملې انسټالېشن

د Easy Php ویب پاڼي ته لاړ سئ  او اخیرنۍ نسخه یې را ډاونلوډ کړئ. کله چي سافټ وېر مو بشپړ ډاونلوډ سو، انسټال یې کړئ ، تر دې نېټې ( ۲۰۱۳- فیبروري ) پوري د اخیرنۍ نسخې شمېره یې ۵,۴,۶ ده .


## په ایزي پي اچ پي (Easy Php) کي د ډېټابېس او یوزر جوړول او ډېټابېس ته د یوزر اضافه کول

مخکي له دې چي په خپل کمپیوټر کي جومله انسټال کړئ ، و جوړ سوي ډېټابیس ته ضرورت لرئ، د ډېټابېس د جوړولو دپاره لاندي چاري پر مخ بوځئ:

لومړی : د ایزي پي اچ پي پروګرام پرانیزئ.


دوهم : د پروګرام د کړکۍ پرمخ  وګورئ چي مای سکویل (MySQL) او اپاچي (Apache) دواړه فعال وي.

د فعال او نه فعال نخښه یې د هغوی مخي ته په څراغونو کي ده، که څراغ زرغون و ، فعال دی او که زرغون نه و ژړ او سور و، نو بیا غیر فعال وي.




ځنګه چې په پورتني انځور کي وينئ، ماى سکويل فعال او اپاچي غير فعال دى، ځکه د ماى سکويل رنګ زرغون او د اپاچي رنګ سور دى، د اپاچي د فعالولو د پاره پر Apache نومي تنۍ ټک وکړئ او د Start کمانډ تري انتخاب کړئ.


يادونه : په لومړي سر کي که د ايزي پي اچ پي (EasyPhp)تر انستالېدو وروسته د لاندي ډول (انځور)ستونزي سره مخامخ سواست، خپل کمپيوټر ته د مايکروسافټ له ويب پاڼي څخه د Microsoft Visual C++ Redistributable سافټ وېر کښته او انسټال کړئ.




د سافټ وېر د کښته کولو دپاره پر لاندي لينک کليک وکړئ.

http://www.microsoft.com/en-us/download/details.aspx?id=5582

دریيم :





د ایزي پي اچ پي (Easy Php) پر آیکن د ښي لاس کلیک وکړئ
ځو یوه مېنو ښرګنده سي، له دې مېنو څخه د Explorer کمانډ
انتخاب کړئ.
په پرانیستل سوي فولډر کي د جوملې ټول فایلونه کاپي کړئ.
یادونه : د جوملې فایلونه ټول باید د ایزي پي اچ پي انستال
سوي پروګرام پهwww نومي پوښۍ (فولډر) کي ځای پر ځای
سي.دا پوښۍ په لاندي ځای کي هم موندلی سئ.


C:\Program Files\Easy Php 5.4.6\www

ځلورم :

د آیکن بار (Icon Bar) څخه پر Administration نومي بولۍ(کمانډ) ټک وکړئ او د پرانیستل سوي
پاڼي څخه د Php My Admin لینک پیدا او پاڼه یې پرانیزئ.
د پاڼي په سر برخه کي د Database پرلینک کلیک وکړئ او Create Database لاندي د نوي
دیټابیس جوړولو دپاره نوم ورکړئ.(انځور وګورئ).



د دېټابېس د جوړېدو وروسته ، يو نوی يوزر جوړ او د دې دېټابېس سره يې وصل کړئ، د يوزر د جوړولو دپاره دMyPhpAdmin پر پاڼه د Users په نوم لينک او وروسته پر Add Userباندي کليک وکړئ.




دلته لاندي «دېټا» د يوزر جوړولو دپاره اړين دي:


User Name: دلته يوزر ته يو نوم ورکړئ.

Host: دلته د Local ټاکنه غوره کړئ.

Password: يوزر ته يو شفر ورکړئ.

Re-Type: پورته شفر يو ځل بيا وليکئ.

د همدې کړکۍ په لاندې برخه کي د Add User تنۍ کليک کړئ. د کليک وهلو وروسته به تاسو ته دغه لاندې ډول پيغام ښکاره سي چي مقصد يې و دېټابېس ته د نوي يوزر اضافه کول دي:




پنځم :


کله چي د جوملي فايلونه په www نومي پوښۍ کي ځاى پر ځاى او نوى دېټابيس هم جوړ سو، د جوملي انستالېشن د پاره

د ایزي پي اچ پي پر آیکن د ښي لاس کلیک وکړئ او له څرګندي سوي مېنو څخه د Local Web کمانډ انتخاب کړئ.

د کلیک کولو وروسته به په بروسر کي یوه پاڼه پرانیستل سي چي آی پي (IP) او ادرس به یې لاندي ډول وي :

http://127.0.0.1:8888/installation/index.php

دلته ۱۲۷,۰,۰,۱ د ایزي پي اچ پي محلي سرور آی پي او Installation د جوملې د پوښیو څخه یوه ده چي د انستالېشن د پروسې د پاره تري کار اخیستل کیږي.




د جوملې د لګولو (انستالولو) دپاره اووه ګامونه باید په بریالیتوب سره پر مخ یوړل سي :

۱) Language

۲) Pre-Installation Check

۳) License

۴) Database

۵) FTP Configuration


۶) Configuration

۷) Finish


لومړی گام : دلته یوازې یوه ژبه انتخاب کړئ. که پښتو په کې نه لیدل کېده، انگرېزي ژبه انتخاب او د Next تنۍ کلیک کړئ.




دوهم گام:دې پړاو کې د جوملې ټول تنظیمات لکه د پي اچ پي نسخه، دېټابیس ملاتړ او ...که ټول صحیح وه، مخې ته یې د (هو Yes) کلیمه راځي او که کوم یو یې ستونزه لرله ، مخې ته یې د (نه No) کلیمه راځي، که ټول تنظیمات سم ول، د پرمختگ دپاره د Next تنۍ کښېکاږئ.




درېیم گام : دې گام کې د جوملې د لیسنس او قوانینو پاڼه راوړل کیږي. د لوستلو او یا منلو وروسته د Next تنۍ کښېکاږئ.




څلورم ګام :دلته کوم ډیټابیس چي مخکي جوړ سوی و د هغه نوم او ورسره یوزر او پسورډ ورکول کیږي.

خالي خوني په لاندي ډول ډکي کړئ:

ډیټابیس نوعیت : mysqli


هاسټ نوم : localhost

یوزر نوم : pashto ) کوم یوزر چي و نوي دیټابیس ته اضافه سوی و).

پسورډ : xxxxxx

ډیټابیس نوم: دلته کوم ډیټابیس چي مخکي په My Php Admin کي جوړ سوی و د هغه نوم ورکول کیږي.

د پورتنیو مالوماتو په ورکولو سره د Next تنۍ کښېکاږئ.




پنځم ګام : دلته د FTP د پاره تنظیمات ورکړئ، د جوملي اکثره کاروونکي له Ftp څخه کار نه اخلي، تاسو هم کولای سئ بیله داچي کومه لاسوهنه پکښې وکړئ، د Next تنۍ ووهئ.

**شپږم گام:دConfiguration کړکۍ**

**په دې کړکۍ کې لاندې مواد ضرور دي:**


**سایټ نوم Site Name : دلته د خپل سایټ د پاره یو نوم ورکړئ، دا نوم د بروسر پر ټایټل بار ( Title Bar) را څرګندیږي.**

**Your Email: دخپل برېښنالیک پته ورکړئ.**

**Admin Username: د جوملې وکنټرول پانل ته د ننوتو دپاره د یوزر نوم ورکړئ.**

**Admin Password: د خپل ورکړل سوې یوزر د پاره پسورډ ورکړئ.**

**Confirm Admin Password: پورتنی پسورډ بیا ولیکئ.**



**اووهم گام : د Finish کړکۍ:**

**دلته د جوملې انستالېشن پای ته رسيږي، ددې دپاره چي د جوملې و مخپاڼي او کنټرول پانل (Administration) ته لاسرسی پيدا کړئ، بايد د جوملې په فولډرونو کي د Installation فولډر ايسته کړئ. دا فولډر د همدې کړکۍ له مخي د Remove Installation Folder تڼۍ په کښېکاږلو سره حذفولی سئ.**




***

## د سایټ پر مخپاڼه د ماجولونو (Modules) د لیدو طریقه


په جومله (۱,۵) کې تاسو د هرې جوملې ویب پاڼې د ادرس په اخیره کې د (?tp=1) ورکاوه څو د سایټ پر مخپاڼه د ماجولونو نخښه ښکاره کړي.

خو د جوملې په ۲,۵ نسخه کې بیا داسې ساده نه ښودل کیږي. د جوملې پرمخ بیوونکي ټیم ددې دپاره چې د یوه ویب سایټ نخښه هر چا ته ونه ښودل سي، د هغې لپاره یې یوه ځانګړنه زیاته کړې ده. که څوک غواړي چې د خپل سایټ نخښه لیدونکوته ښکاره کړي، په تنظیماتو کې باید بدلون راولي. دا کړنه یوازې او یوازې د جوملې له لورې د یوه محافظ په توګه ورزیاته سوې ده.


د ښودلو طریقه :

۱)د جوملې و کنټرول پانل ته ننوزئ.

۲)د Extensions له مېنو څخه ټیمپلیټ منېجر(Template Manager) او بیا Options باندې کلیک وکړئ(انځور)




۳)د Preview Module Positions مخې ته د Enabled راړېو



باکس انتخاب او تر انتخاب وروسته د Save&Close تنۍ کښېکاږئ.

۴)اوس د ډومين تر ادرس وروسته دغه(?tp=1) ټايپ کړئ.

بېلګه :

www.yoursite.com/?tp=1

د دي ځانګړني د غير فعالولو دپاره د Preview Module Positions مخي ته د Disabled راډيو باکس انتخاب او تر انتخاب وروسته د Save&Close تنۍ کښېکاږئ.

***


## د کار پر وخت د سايټ بندول

کله چي پر سايټ کار کوئ، کوښښ وکړئ چي د ليدونکو پرمخ يې وتړئ او د خپل کار تر بشپړولو وروسته يې بيرته پرانيزئ.

د تړلو طريقه :


۱)کنټرول پانل ته ننوزئ.

۲)Sites مېنو څخه پر Global Configuration کليک وکړئ.



۳) تر Site Settings لاندې دغه تغييرات راولئ:

- د Site Offline مخې ته د Yes راډيو باکس انتخاب کړئ.
- دOffline Messages لاندې د Custom Message مخې ته پيغام وليکئ.
- که کوم انځور هم د پيغام سره خپروئ ، کولای سئ د Offline Image څخه يو انځور ورته را پورته کړئ.




۴)د Save&Close تڼۍ کښيکاږئ، تر څو ستاسو راوړل سوي تغييرات ذخيره سي.

***

## د اړیکپاڼې جوړول

## Creating Contact Page


اړیکپاڼه -هغه صفحه ده چې له مخې یې لیدونکي د ویب سایټ وچلوونکي ته برېښنالیک لیږي، دا برېښنالیک د همدې جوملې ویب پاڼې په مټ بېله دا چې خپل شخصي برېښنالیک ته ننوځئ، لیږلی سئ.

د ویب پاڼې پر مخ د دې صفحې (اړیکپاڼې) د جوړولو دپاره لا ندې لارښود ته ځیر سئ:

۱) د جوملې کنټرول پانل ته ننوځئ.

۲) کمپونینټ (Components) مینو باندې کلیک وکړئ او د Contacts څخه Categories انتخاب کړئ.


۳) د New تنۍ کلیک کړئ.




۴) د Category Manager لاندې خالي خونې ډکې کړئ:

- Title: د صفحې دپاره عنوان.
- Alias: د صفحې دپاره مستعار نوم.
- State: دلته د Published او Unpublished ټاکني لرئ، Published يعني دا ځانګه (د اړيکو) دي فعاله سي، او Unpublishedيعني دا ځانګه دي فعاله نه وي.
- Access: لاسرسی؛څوک ورته لاسرسی ولري.

* د دې علامې لرونكي خوني دي خامخا ډكي سي.




۵) د خالي خونو تر ډکېدا وروسته د Save & Close تڼی کښېکاږئ.


اوس بيرته د Component له مېنو څخه د Contacts څخه پر Contacts کليک وکړئ.

۱) د New تڼی کښېکاږئ.

۲) خالي خوني ډكي كړئ.

۳) وښي لاس ته د Contact Options لاندي لست کي د Email مخي ته د اعتباري برېښناليک پته وركړئ؛د سايټ لېدونكو برېښناليكونه به د همدې وركړل سوي برېښناليک پتي په ذريعه ترلاسه كوئ.

۴) كه غواړئ چي د اړيکپاڼي (Contact Page) سره مو ادرس، ټليفون شمېره، پوست كوډ، ويب پاڼه او نور هم راسي، اړوند خالي خوني يې ډكي كړئ. دخالي خونو تر ډكېدو وروسته پر Save & Close كليک وكړئ.





**تر دې ځايه يوازې اړيکپاڼه (Contact Page) جوړه سوه.**

**اوس بايد دا چمتو/جوړه سوې پاڼه د ويب سايټ پر مخ راوړل سي، ددې کار دپاره لاندې لاربشود عملي کړئ.**

**۱) د Menus له مينو څخه Main Menu او بيا Add New Menu Item انتخاب کړئ.**

**۲) تر Details لاندې د ستورو لرونکو علامو خالي خونې ډکې کړئ.**

- **Menu Item Type: دلته د Select په کښيکاږلو د اړيکپاڼې دپاره د مينو يو نوعيت وټاکئ.د بېلگې په توگه: Single Contact**




- **Menu Title**: دلته د اړیکپاڼي دپاره عنوان ورکړئ. د بېلگي په توگه :   "زموږ سره اړیکه"
- **Menu Location**: د اړیکپاڼي دپاره یوه مېنو انتخاب کړئ. که مخکي له مخکي کومه مېنو نه وه جوړه سوې، همدا **Main Menu** دي وټاکل سي.

۳) بنې خوا ته د **Required Settings** لاندي ، د **Change Contact** پرتنۍ کلیک وکړئ او چمتو سوې اړیکپاڼه (**Contact Page**) انتخاب کړئ.

۴) د **Save&Close** تنۍ کلیکه کړئ. اوس به ستاسو اړیکپاڼه د ویب سایټ پرمخپاڼي را څرگنده سوې وي.




***

## د Favicon انځور بدلول

فاوآیکن(Favicon) هغه کوچنى انځور ته ويل کېږي چي د وېب سايټونو تر پټو مخکي لګول او ښودل کېږي، ددې انځور کچه (سايز) شپاړس په شپاړس پيکسلو ( ۱٦x۱٦) کي وي، د جوملې وېب سايټ د ټيمپليټونو سره هم دا کوچنى انځور (فاوآيکن) لګول سوى وي، خو تاسو کولاى سئ پر ځاى يې خپل ځايناستى انځور ولګوئ.




لاربښود :

۱) فاوآيکن(Favicon.ico) انځور جوړ کړئ.

تاسو کولاى سئ دا ډول کوچنى انځورونه د وړيا فاوآيکن جوړولو په ويب سايټ کي جوړ کړئ.

پته : www.favicongenerator.com

او يا هم کولاى سئ د فوټوشاپ پروګرام په ذريعه دا انځور ډيزان او د favicon.ico په نوم يې ذخيره کړئ.

۲) اوس خپل ډيزان سوى فاوآيکن د جوملې ويب سايټ و لګول سوي ټيمپليټ ته کاپي کړئ.

ستاسو پرليکه سوى ټيمپليټ د جوملې په Templates پوښۍ کي ذخيره سوى وي.

۳) تر کاپي کېدو وروسته خپل ويب پاڼه تازه (Refresh) کړئ او نوى فاوآيکن ووينئ.

د فاوآيکن (Favicon) ډيزانولو څو نوري انټرنيټ پاڼي :

http://www.favicon.cc

http://www.genfavicon.com

http://www.256pixels.com

http://www.favicontool.com

http://www.favicon.co.uk/

http://www.favicongenerator.com

http://www.dagondesign.com/tools/favicon-generator-tool

---

## د جوملې رسمي ويب پاڼه

د جوملې يوازنۍ ملاتړ کوونکې رسمي ويب پاڼه د جوملې د ټيم له خوا پرليکه سوې ده، د دې ويب پاڼې په مټ د جوملې کاروونکي کولای سي نوي ډېزان سوي ماجولونه، کمپونينټونه، پلاګينونه ، قالبونه او داسي نور شيان اکثره په وړيا توګه ترلاسه کړي.

د ډاونلوډ پرته د جوملې ويب پاڼي څخه د جوملې د زده کړي په اړه بېلابېل کتابونه (په پيسو ) رانيولی سئ.

يادونه : په وړيا توګه د جوملې د کتا بونو د کښته کولو لارښود ددې ليکني په وروستۍ برخه کي وګورئ.

د جوملې سي ام اس رسمي انټرنيټ پاڼه :

http://www.joomla.org

د جوملې ويب پاڼي فورم :

http://forum.joomla.org

دجوملې  د زده کړي مطالب :

http://docs.joomla.org

***

## په نورو ژبوکي د جوملې سي ام اِس

د جوملې سي ام اِس د نړۍ و ډېرو ژبو ته ژباړل سوی دی خو تر دې مهاله د جوملې سي ام اس په پښتو نه دی ژباړل سوی او اکثره پښتانه ویب سایټ چلوونکي له ا نگرېزي جوملې څخه کار اخلي.

د جوملې ۲,۵ نسخه و دې ژبو ته ژباړل سوې ده :

افریقایي، البانیایي، عربي، ازري، بنگالي ، بېلاروسي، بوسنیایي، بلغاریایي، کوردي، چینایي( ساده، او رواجي ژبه) ، چِک، ډنمارکي، انگرېزي (استرالیا دپاره)، انگرېزي (امریکایي)، فرانسوي، جرمني، یوناني، هندي، هنگري ، اندونیزیایي، ایټالیایي، جاپاني، کوریایي، لیتوانیایي، مالیزیایي، مونگولیایي، ناروېژي، فارسي ، اسپانیایي، تامیل (انډیا)، ترکي، اُکرایني، اردو، ویتنامي او څو نوري... .

## پښتو ته د جوملې سي ام اِس ژباړل

په لومړي سر کي کوښښ وکړئ یو داسي ایډیټر (Editor) په کمپیوټر کي انسټال کړئ، چي د UTF-8 ملاتړ ولري څو په ا سانۍ وکولای سئ د جوملې فایلونه له یوې ژبي څخه بلي ژبي (غیر لاتیني ژبي) ته وژباړئ.

تاسو کولای سئ یو له دې لاندنیو ایډیټرانو(Editors) څخه وکاروئ.

۱) NotePad++

ویب پاڼه: http://notepad-plus-plus.org

۲) پروگرامر نوټ پډ (Programmer NotePad)

ویب پاڼه: http://www.pnotepad.org

۳)SuperEdi

**ويب پاڼه: http://www.wolosoft.com/en/download.html**

## د جوملې ژباړه :

**لومړی : د جوملې سي ام اس ۲،۵ نسخه له دې ويب سايټ څخه راکښته کړئ.**

**http://www.joomla.org/download.html**

**دوهم :د جوملې په فايلونو کي دوه ځايه د Language فولډرونه سته، يو يې د جوملې د مخپاڼو د ژباړي او بل يې د جوملې د کنټرول پانل د ژباړي دپاره دی. که د ټولي جوملې ژباړه غواړئ، نو د دواړو پوښيو (فولډرونو) فايلونه وژباړئ.**

**لومړی يوه نوې پوښۍ د ps-AF په نوم جوړه کړئ ،او د يو يو فايل د ژباړلو وروسته همدې پوښۍ ته را کاپي کوئ.**

**په لاندي ډول يې وژباړئ :**

**يو فايل په يوه ايډيټر کي پرانيزئ، د هر فايل هره کرښه د يوې معادلې په شان د مساوي علامې په ذريعه سره جلا سوې ده، ژباړي ته يوازي د معادلې يو اړخ يعني د مساوي را وروسته برخه په نظر کي نيول کيږي، او هغه کليمې يې ژباړل کيږي چي د اقتباس نخښو ترمنځ وي.**


**د بېلګي په توګه :**

**لاندي د يوه فايل يوه کرښه را اخيستل سوې ده، دلته يوازي کومه کليمه چي د اقتباس نخښو ("") ترمنځ ده، هغه ژباړل کيږي.دا چي دلته د اقتباس نښو په منځ کي د Sender کليمه ده، نو يوازي همدا کليمه ايسته کيږي او پر ځای يې د هغې ژباړه ليکل کيږي.**

COM_MAILTO_SENDER="**Sender**"

COM_MAILTO_SENDER="**لیږونکی**"

**لاندي د يوه فايل بېلګه :**


File Edit Format View Help
COM_MAILTO="برېښنالیک"
COM_MAILTO_CANCEL="باطلول"
COM_MAILTO_CLOSE_WINDOW="کړکۍ وتړه"
COM_MAILTO_EMAIL_ERR_NOINFO="لطفاً د اعتبار وړ برېښنالیک پته ورکړئ"
COM_MAILTO_EMAIL_TO_A_FRIEND="لینک و ملګري ته برېښنلیک کړئ"
COM_MAILTO_LINK_IS_MISSING=" Link is missing"
COM_MAILTO_SEND="لېږل"
COM_MAILTO_SENDER="لېږونکی"
COM_MAILTO_SENT_BY=" Item sent by"
COM_MAILTO_SUBJECT="موضوع"
COM_MAILTO_YOUR_EMAIL="ستاسو برېښنالیک"

د ټولو فایلونو د ژباړني وروسته د همدې Language په پوښۍ کي د xml يو فایل کي هم لږ شانتي تغییرات راولئ .

تغییرات په دې ډول راولئ:

- د xml انګرېزي (en-GB)فایل نوم و پښتو(ps-AF) ته واړوئ.
- لاندي څو کرښو کي تغییرات راولئ.

- <name>Pashto پښتو</name>
- <version>2.5</version>
- <creationDate>2013-05-3</creationDate>
- <author>Timor Shah Yousofzai</author>
- <authorEmail>yousofzai@gmail.com</authorEmail>
- <authorUrl>www.mywebsite.com</authorUrl>


کله چي د جوملې ټول اړین فایلونه (پښتو ته) وژباړل سول، د کاروني دپاره يې باید د جوملې په سي ام اِس کي انسټال سي.

***

## د سایټ مدیریت او تنظیمات

**مدیریت:**

**مخکي له دې چې د جوملې سایټ ټول اړخونه یو په یو واضح کړو، اړینه بولو چې یو نظر د جوملې و لومړۍ مدیریتي پاڼي ته واړوو، کله چې تاسو د administrator لغت په ټایپولو سره د کنټرول پانل برخي ته ننوځئ، لومړی له دې ډول صفحې سره مخامخ کیږئ:**




دا صفحه (پاڼه) څلور برخې لري:

۱) د مینو برخه (Menu):

دا برخه دجوملې کنټرول پاڼې په پورتنۍ برخه کې قرار لري چې اووه مینوګانې لري او هره مینو یې جلا جلا کارونه ترسره کوي.

۲) د وضعیت ښوونې برخه (Status Bar ):

په دې برخه کې د پرلیکه سویو کسانو شمېر، کنټرول پانل ته د داخل سویو کسانو شمېر، راغلي پیغامونه او د وتون (Log out) تڼۍ سته.

۳) د سریع لاسرسي برخه :


په دې برخه کې د ویب سایټ د کنټرولولو او د مطالبو د خپرولو دپاره د چټک لاسرسي په موخه د هرې برخې غټ آیکن ځای په ځای سوی دی.د دې ټولو آیکنونو کارونه د مېنوګانو له لارې هم شوني ده، خو د چټک لاسرسي دپاره د همدې آیکنونو څخه کار اخیستلای سئ.

۴) مدیریتي ماجولونه (Administrative Modules)


دغه برخه د بېلابېلو ماجولونو چارې ښیي. د دې ماجولو د اضافه کولو او کمولو په اړه د کتاب په اوږدو کې بحثونه سوي دي.

## پاسنۍ مېنوګاني (Top Menus)


د کنټرول چارې ټولې له دې مېنوګانو څخه ترسره کیږي، د جوملې ۲,۵ نسخه کې اووه مېنو ګاني شتون لري او هره مېنو یې بیا ځان ته فرعي مېنوګاني لري، چې مهم هغې یې په تفصیل دلته او د لیکنې به نورو برخو کې بیانوو.




د سایټ مېنو (Site Menu):



د سايټ کلي تنظيمات او ان د مديريت (کنټرول) بعضي چاري د همدې مېنو له لاري ترسره کېږي.




د دې مېنو لومړی کمانډ Control Panel دی، چې په کلیک وهلو يې و لومړی صفحې ته ستنيږئ. دوهم کمانډ يې My Profile (زما پروفايل) دی،چې اجزاوې يې يو په يو لاندې توضيح سوي دي .

نوم(Name) :

په دې برخه کې تاسو کولای سئ ځان ته يو نوم غوره کړئ. د جوملې د لګولو (انسټالولو) پر وخت په دې ځای کې په اتومات ډول Super User يا قدرتمند کارن ليکل سوی وي. دا نوم کله چې تاسو مطالب د سايټ پر مخپاڼه خپروئ د هغوی په اړخ کې ښودل کېږي (البته کله چې د ليکوال د نوم ښودلو ټاکنه انتخاب سوي وي).

په حقيقت کې تاسو په جوملا کې د دوو نومو درلودونکي ياست ، يو هغه نوم چې تاسو وسايټ ته ننوځئ او بل هغه نوم چې ونورو ته د مطالبو تر خپراوي وروسته ښودل کيږي؛ د نوم دا برخه (Name) هغه برخه ده چې نور تاسي د هغه په مټ پيژني.

کارن نوم (Login Name) :

کارن نوم هغه نوم دی چې په انګرېزي کې ورته لاګين يا يوزرنيم وايي، دا نوم د يو شفر سره مل وي، او د همدې نوم او شفر په ذريعه د جوملې و کنټرول پانل ته ننوتلی سئ، هغه نوم چې نور يې ليدلی نه سي او يوازې تاسو ورڅخه اطلاع لرئ.

دلته ستاسو کارن نوم admin دی. د امنيتي ملحوظاتو له امله سپارښتنه درته کېږي چې بل نوم ته يې واړوئ.

**شفر (Password) :**

**دجوملې کنټرول پانل برخي ته د ننوتو شفر، هغه پټ لغت دی. چي توري يې د ټايپ په وخت نه ښودل کېږي ، او و کنټرول پانل ته د ننوتو پر وخت د کار ن سره يوځای کاريږي.**

**:Confirm Password**

**کله چي يو يوزر ته نوی شفر ورکوئ، ددې دپاره چي هغه ورکړل سوی شفر صحيح ټايپ سوی وي، د لا ډاډ په خاطر د دوهم ځل دپاره په همدې خونه (Confirm Password) کي درڅخه د لومړي ځل شفربيا غوښتل کېږي.**

**برېښناليک Email :**

**ټول برېښناليکونه چي د کارن نومونو(User Names) له خوا درته لېږل کېږي د همدې ايميل په مټ يې ترلاسه کوئ، نو د هغه په کره توب کي ډېر پام وکړئ.**

**نوم ليکني نېټه (Registration Date):**

**په جومله کي د ټولو ثبتو سوو يو زرونو د نوم ليکني تاريخونه دلته ښودل کېږي.**

**وروستی ليدنه (Last Visit Date) :**

**دا هغه نېټه ده چي وروستی ځل کنټرول پانل ته ننوتلي ياست.**

**پېژندشمېره (ID):**

**جومله کي هر مطلب، يوزر، څانګه، ماجول، پلاګين، کمپونينټ او ... ځان ته د پېژندګلوی يوه شمېره لري. په معمول ډول تاسو ددې پېژند شمېرې سره سر او کار نه لرئ .**


**د کنټرول پانل سټايل :**

**:Backend Template Style**

ځنګه چي د جوملې مخپاڼې دپاره ډول ډول ټيمپليټونه انتخابولای سئ، د جوملې کنټرول پانل دپاره هم ډول ډول ټيمپليټونه انتخابولای سئ.

د اوسني ډيزان پر ځای کولای سئ له درکړل سوي ليسټ څخه **Hathor** ټيپمپليټ غوره کړئ. ددې په انتخاب سره ستاسو ټوله کنټرول پاڼه له اوسني رنګ څخه و نوي رنګ او ډيزاين ته اوړي.

کولای سئ خپل يوزر ته نوی ايډيټر او د بک اينډ (**Backend**[10]) او فرانټ اينډ(**FrontEnd**[11])ته ژبي انتخاب کړئ.





**محلي وخت (Time Zone) :**

---

١) بک اينډ (**Backend**) په جومله کي د سايټ و کنټرول پانل ته ويل کيږي دې لغت ته مو په پښتو کي غوره بديل پيدا نه کړ نو له همدې امله مو په ډېريو ځايو کي «کنټرول پانل » ترکيب کار کړی، چي مقصد همدا **Backend** دی.

٢)فرانټ اينډ (**Frontend**) په جومله کي د سايټ و هغه برخي ته ويل کيږي، چي ليدونکي ورځخه ليدنه کولای سي، يا په بل عبارت د سايټ ومخپاڼې ته « فرانټ اينډ » ويل کيږي، چيري چي ليدونکي کولای سي د ويب سايټ خپاره سوي مطالب ولولي، د کتاب په بېلابېلو برخو کي مورږ ددې لغت اصطلاح دپاره (مخپاڼه/مخپاڼې) کار کړی دی.

خنګه چي له نوم څخه يې ښکاري، د هغه سيمي وخت دی چي تاسو پکښي ژوند کوئ ، د بېلګي په توګه که تاسو په کابل کي ژوند کوئ، نو کابل د ورکړل سوي ليسټ څخه انتخاب کړئ. له دې وروسته کله چي يوزر مطالب خپروي د همدې وخت (زمان) په اساس به خپرېږي.




د کنټرول تڼۍ (Control Buttons):

د کنټرول تڼۍ هغه څه ده چي د جوملې په ګڼو کنټرول پاڼو کي ليدله کيږي. د دې تڼيو په ذريعه کولای سئ خپل راوړو تغييراتو ته بدلون ورکړئ ، دا چي هره تڼۍ ځان ته بېل کاربډنګ لري ، لاندي مو توضيح ورکړې ده.




:Save

د نويو تغييراتو د ذخيره کولو دپاره کارول کېږي. کله چي پر دې تڼۍ ټک وکړئ د تغييراتو تر ذخيره کېدو وروسته تاسي بيرته هم هغه صفحې ته چي پکښي ياست ، را ستنوي.

**Save & Close:**

د دې تڼۍ دنده هم د **Save** تڼۍ په شان ده، خو یوازنی توپیر یې دا دئ چې ددې تڼۍ په وهلو سره ستاسو تغییرات ذخیره کېږي، لیکن له کومې صفحې څخه مو باسي چې تاسې کار پکښې کوئ، او مخکینۍ صفحې ته مو استوي.

**Close:**

دا تڼۍ بېله دا چې ستاسو راوړل سوي تغییرات ذخیره کړي، صفحه تړي او مخکینۍ صفحې ته مو بیايي.

**Help:**

ددې تڼۍ په ذریعه تاسې دجوملې و رسمي وېب پاڼې ته راجع کېږئ، چیرې چې د جوملې په اړه ډېر جزئیات خپاره سوي دي.

***

## د Site  مينو


## كلي تنظيمات

## Global Configuration

## سايټ  تنظيما ت - Site Settings

**سايټ نوم (Site Name) :**

كه مو په ياد وي د جوملې د انسټالېشن په وخت د سايټ نوم په اړه پوښتنه سوي وه، دا نوم د جوملې وېب پاڼې د هر مطلب په پرانيستو د بروسر په ټايټل بار (Title Bar) كي ښكاري. تاسي كولاى سئ له همدې برخي څخه دا نوم چي هر وخت مو زړه وي بدل كړئ.



د سایټ تړل (Site Offline) :  هرکله چي وغواړئ سایټ د لیدونکو پرمخ بند کړئ، ددې ټاکني مخي ته د Yes راډیو باکس انتخاب کړئ. (د پوره جزئیاتو دپاره "د کار پر وخت د سایټ بندول " مطلب ولولئ ).

:Offline Message

Hide: کله چي سایټ د تړلو ټاکنه انتخاب او د Hide راډیو باکس انتخاب کړئ، پیغام و لیدونکي ته نه ښکاره کوي.


Use Custom Message: د دې راډیو باکس په ټاکلو سره کولای سئ په لاسي توګه خپل پیغام ولیکئ.

Use Site Language Default Message: ددې راډیو باکس په ټاکلو سره، د جوملې ټاکلی پیغام خپریږي.

د جوملې پیغام داسي دئ:

**This site is down for maintenance.**

**Please check back again soon.**




Offline Image :( د تړلي سایټ د پاره انځور)

کله چي سایټ د لیدونکو پر مخ تړئ ، کولای سئ د پیغام تر څنګ یو انځور هم ورسره

ولګوئ،دا انځور ستاسو د وېب پاڼې اړوند لوګو ، تجارتي نښان او یا هم هر ډول انځور چي ستاسو خوښ وي کېدلای سي د **Select** په کښېکاږلو او د بلي کړکۍ څخه د **Add Files** په وهلو کولای سئ په خپله خوښه کوم انځور را پورته کړئ.

د انځور تر لګولو وروسته ، تړلې پاڼه دا ډول ښکاري.

**Default Editor** (ډیفالټ ایډېټر)

مخکي تر دې چي د جوملې پر دې برخي څه ولیکم، اړینه بولم چي «ایډېټر» یوځل توضیح کړم: د ایډېټر دپاره پښتو کي کېدای سي د «سمونګر[12]» لغت وکاروو( په کتاب کي تر ډېره و **Editor** ته "اډېټر" او"سمونکی" کار سوي دي).

اډېټر یا سمونکی و داسي پروګرام ته ویل کېږي، چي د متن د لیکلو، ډیزاینولو او خپرولو دپاره کارېږي،دوه ډوله ایډېټرونه لرو،چي یو یې ساده او بل یې پرمختللي دی.

یو څو بېلګي :

**NotePad**

**Notetab**

**Notepad2**

**++Notepad**

**SuperEdi**

12 په قاموسونو ټکی کام کي و **Editor** ته د "سمونګر" مفهوم کار سوی دی، خو د ګر وروستاړی فارسي دی.

خو د هر کار دپاره بېل بېل او ځانګړي اېډيټران جوړ سوي وي، د بېلګي په توګه د Php، HTML، CSS ... او تاسي د  نورو دپاره ځانګړي اېډېټرونه په انټرنيټ کي موندلای سئ، خو دجوملې دپاره لاندي هغه يې د يادوني وړ دي.

TinyMCE

JCE(Joomla Content Editor)


جوملې ته  TinyMCE ايډېټر په نظر کي نيول سوی دی. دا يو پېژندل سوی او ستندرډ ايډېټر دی، خو په جومله کي کولای سئ له نورو اېډېټرونو څخه هم کار واخلئ.

### کپچا(Captcha) کوډ:

### Default Captcha

کپچا امنيتي لغت ته ويل کېږي چي په سايټونو کي د امنيتي ملحوظاتو دپاره  کارېږي. د Captcha څخه تر ډېره د شخص يا سيستم د اعتبار دپاره کار اخيستل کېږي، ځکه Captcha کوډ د انځور پرمخ ليکل سوی وي،تر څو خلک يې ټايپ او د کار و بل پړاو ته ځان ورسوي( هغه کار دئ چي له لوستو يې روباټونه عاجز دي).

جومله کي د دې برخي په فعالولو سره د فورم په ثبتونو، اکونټ جوړولو او نظر  ورکولو پر وخت کار اخيستل کېږي.



خو د کپچا (Captcha)د فعالولو دپاره اړ یاست چي ددې کوډ پلاګین د مدیریت له برخي څخه فعال کړئ.

ددې کوډ د فعالولو او استعمالولو دپاره دا لاربشود عملي کړئ:

۱) لومړی په ګوګل کي یو اکونټ جوړ کړئ. ( که یې لرئ هم هغه اکونټ وکاروئ).

۲) پر دې لاندي لینک کلیک وکړئ.

https://www.google.com/recaptcha/admin/create

د پورته لینک په کښیکاږلوسره به د لاندي انځور غوندي پاڼي سره مخامخ سئ:



۳) په دې پاڼه کې د خپل ویب سایټ ډومین ورکړئ او تر لاندې یې د Enable this key on all domains (global key) خونښ باکس په ټاکلو سره د Create Key تڼۍ کښېکاږئ.


۴)څرنګه چې په لاندې انځور کې وینئ. دوې کیلۍ Public Key او Private Key ستاسو د ډومین دپاره جوړې سوې دي. دا پاڼه مه تړئ ؛ د بروسر په بله کړکۍ کې د جوملې و کنټرول پانل ته ننوځئ او د Components له مېنو څخه پر Plug-ins کلیک وکړئ.


hariwa.com

| | |
|---|---|
| Domain Name: | hariwa.com<br>**This is a global key**. It will work across all domains. |
| Public Key: | 6Lfk7t4SAAAAAAs6Ty6fYs57k7aLT_zbZTyDTbpl<br>Use this in the JavaScript code that is served to your users |
| Private Key: | 6Lfk7t4SAAAAAILEb16Reb6derzpBzUH1ZMDLq_B<br>Use this when communicating between your server and our server. Be sure to keep it a secret. |
| | Delete these keys |
| Resources: | reCAPTCHA plugins and libraries<br>reCAPTCHA API Documentation |
| Now what? | SUBSCRIBE to important reCAPTCHA service announcements.<br>Install reCAPTCHA on your site. This is done in two parts. First, you need to add some HTML that displays the reCAPTCHA widget. Second, you need to configure your form to contact our servers to verify reCAPTCHA solutions. Here are specific instructions for: PHP, WordPress, and MediaWiki. For other environments, visit our resources page.<br>If you need help, post your questions in the reCAPTCHA forum. |

۵) د خرګند سوي لیست څخه د Captcha-Recaptcha پر پلاګین باندي کلیک وکړئ. ددي پلاګین په کلیکولو به د یوې کړکۍ سره مخامخ سئ چي وکینې لاس ته به یې دوې خالي خوني د( Public Key) او ( Private Key) په نومونو ووینۍ.

د ګوګل له پاڼي څخه د Public Key د Public Key لاندي خونه او Private Key د Private Key لاندي خونه کي کاپي او پاس پر Save & Close تڼۍ کلیک وکړئ، څو راولړ سوي تغییرات ومنل سي. ( د پلاګین په لیست کي وګورئ چي د Captcha پلاګین فعال دی که نه، که فعال نه و باندي کلیک وکړئ چي فعال سي ).





بیرته د سایټ مینو د بشپړو تنظیماتو په لورا!

لاسرسۍ کچه (Access Level):

جوملہ ۲,۵ دا وړتیا لري چي بېلابېل ګروپونه د سایټ و مختلفو برخو ته د لاسرسۍ جوګه کړي، یعني هر ګروپ ته مشخص حدود ټاکل کېږي چي د سایټ و کومو کومو برخو ته دي لاسرسی ولري.

د لاسرسۍ کچه (Access Level) په دې مانا ده چي یوزرونه د نوم لیکني وروسته د سایټ په کومي «کټیګورۍ» (څانګه) کي شامل سي.



## د فهرست محدوده ( Default List Limit)

د جوملې د ماجولونو، کمپونينټونو، پلاګينونو او مطالبو نوملړ د بعضو مېنوګانو په کښېکاږلو درته ښکاره کېږي. څنګه چي تاسو په ليست کي ګورئ چي د مطالبو نوملړ(عنوانونه) يې په بېلابېلو پاڼو تقسيم کړي دي.

تاسو کولای سئ له دې ځايه د هري پاڼي پرمخ د ښکاره کېدو عنوانونو تعداد وټاکئ.

د Default List Limit د مېنو څخه کولای سئ ، ۵، ۱۰، ۱۵، ۲۰، ۲۵، ۳۰ ، ۵۰ او يا هم ۱۰۰ انتخاب کړئ.

## RSS څه دئ؟

آر اس اس د Really Simple Syndication له کليمو څخه اخيستل سوي توري دي چي د اطلاعاتو(خبرونه، ليکني، او...) د را غونډولو امکانات برابروي چي له دې سايټ څخه و بل سايټ ته

لاړسئ، برابروي . د آر اس اس ځانګړنه هم د نورو ښو تکنالوژیو په څېر د هغه په ساده ګی کي ده. د آر اس اس په ذریعه کولای سئ چي د ګڼو سایټونو تازه پرلیکه سوي خبرونه، لیکني او ګڼ شمېر مطالب بېله دا چي اړوندو سایټونو ته یې مراجعه وکړئ په یوه پاڼه کي کتلای سئ.
آر اس اس له ټولو هغو وېب سایټونو څخه په اتومات ډول لیدنه کو ي چي په تنظیماتو کي ورکړل سوي وي، او نوي مطالب یې را اخلي او ستاسو پر تنظیم سوې پاڼه ږدي.

د جوملې له ویب پاڼي څخه کولای سئ د آر اس اس بېلابېل ماجولونه، کمپونینټونه او پلاګینونه کښته کړئ، لاندي د بعضو هغو د نومونویادونه سوې ده :


Ob RSS
My RSS Reader
Continuous RSS Scrolling
OSE RSS Syndicator
RSS Title Slider
Light RSS
RSS Marquee
Joomla RSS Submitter
Fancy RSS Tabs
Ultimate Feed Display
Simple RSS Feed Reader
Generator RSS
RSS Context Factor

سیسټم (System)
د کلي(بشپړو) تنظیماتو (Global Configuration) په مېنو کي یوه د سیسټم برخه ده ا و څنګه چي له نوم څخه یې ښکاري د دې برخي تنظیمات ټول په سیسټم پوري مربوطېږي.
سیسټم لاندي ځانګي لري:

۱) **System Settings**

۲) **Debug Settings**

۳) **Cache Settings**




۴) **Session Settings**

**۱) System Settings**

**Path to Log Folder:**

**پوښۍ کي د اطلاعاتو د ثبتولو مسير ، هغه پوښۍ ده چي په جوملہ کي د ثبت وړ اطلاعات پکښي ذخيره کېږي. د دي پوښۍ پته په خپله د جوملي له خوا مشخصيږي، خو که تاسو خپل سايټ انتقال کړی وي، بيا اړ ياست چي دا آدرس په لاسي توګه داخل کړئ.**

**مثال :**

فکر وکړئ تاسو د جوملې وېب سایټ په خپل کمپیوټر کي د Easy Php سرور په مټ انسټال کړی دی، او اوس غواړئ چي هغه له خپل کمپیوټر څخه د سایټ و هاسټ ته کاپي کړئ.

ستاسو په کمپیوټر کي به د دې فایل ادرس داسي وي :

C:\Program Files\EasyPHP-12.1\www/logs

خو کله چي هاسټ ته د جوملې سایټ « فایلونه» اپلوډوئ، هلته بیا د دې سیسټم له لاري ادرس ته تغییر وکړئ، بېلګه :

/HOME/Your_Domain/public_html/logs


نوټ : دلته د Your_Domain پر ځای خپل د سایټ ادرس یا ډومین ورکړئ او بل دا چي دا ادرس کېدای سي په نورو هاسټونو کي بل ډول وي.

د سرور مرسته (Help Server) :

د مرستي دپاره لاربشود سرور دی چي هري صفحې ته په جلا جلا برخو کي یې آیکن لیدل کېږي. مخکي (ز)ما د پروفایل په ځای کي هم د هغې توضیح ورکړې وه، چي هر یوزر کولای سي ځان ته بېل بېل سرورنه انتخاب کړي.

دDebug سیسټم :

د سیسټم ستونزموندنه (Debug System): که د پروګرام لیکلو پوهه درسره نه وي، دا برخه مه فعالوئ، ځکه که فعاله یې کړئ ، د جوملې په سیسټم کي اړوند ستونزي د پیغامونو په بڼه درته ښکاره کوي، او له تاسو غواړي چي د پروګرام لیکلو یا کوډ په ذریعه سم کړئ.



ستونزموندونکې ژبه : د دې برخې په فعالولو سره تاسو ته د ژباړې اصلي متن ښودل کېږي. که لېواله یاست چې ژباړې ته تغییر ورکړئ کولای سئ دا برخه فعاله کړئ، تر څو د ژباړې وړ متون (متنونه) درته وښودل سي.

## د کش (Cache) تنظیمات

ددې دپاره چې ددې برخې د تنظیماتو په اړه ښه پوهه ولرئ، اړینه بولو چې د کش په اړه لږ وږغېږو.


## Cache څه دئ؟

په کمپیوټر کې د هغو اطلاعاتو یوه کاپي چې په پرله پسې  او دوام داره  توګه د استفادې وړ ګرځي په یوه ځای کې چې کش نومیږي زېرمه کېږي.

د بېلګې په توګه کله چې یوه پاڼه په بروسر کې پرانېزئ، د دې پاڼې د ځینو برخو څخه  په مکرر ډول کار اخیستل کېږي. دغه پرله پسې ډول کوم اطلاعات چې بروسر کې پرانیستل کېږي هغه د کش په نوم یوه ځای کې ذخیره کوي،تر څو د بل ځل دپاره، کله چې د غه پاڼه پرانیستل کیږي ضرورت ودې ته نه وي چې دا اطلاعات دي بیا د وېب پاڼې څخه را واخیستل سي، بلکې د کمپیوټر په حافظه (کش) کې ذخیره سوي هغې د نویو اطلاعاتو سره یوځای پرانیزي. د کش ګټه په دې کې ده چې هغه انټرنیټ پاڼې چې په مکرر ډول د بروسرپه مټ پرانیستل کېږي، د لومړي ځل وروسته پرانیسته یې نسبت و لومړني ځل ته ژر ترسره کیږي.

د ۲٫۵ نسخې جوملې کې، کله چې پاڼه د بروسر په ذریعه پرانیستل کېږي. د جوملې اړوند دېټابېسونو سره یې اړیکي جوړېږي تر څو نوموړې پاڼه پرانیزي. اوس فرض کړئ کله چې د دوهم ځل دپاره دا پاڼه د

هم هغه بروسر په ذریعه را بولئ ، کوم اطلاعات چي بدلون پکښي نه وي راغلی د کش په پوښی کي زېرمه کېږي؛ سایټ د ډینامیک حالت څخه وځي او ستاټیک حالت ته بدلیږي. د همدي کړني وروسته د سایټ سرعت زیاتیږي او د ډیټابیس سره یې د اتصال مرحلې تر ډېره کمیږي.




:Cache

له دي ځای څخه کولای سئ کش فعاله یا غیر فعاله کړئ.

:Cache Handler

د اطلاعاتو د ثبتونو طریقه ده چي دلته د فایل له لاري شوني ده.

:Cache Time


د کش عملیې د اجراء کولو زماني وخت دی چي د دقیقې په اساس عیار سوی دی.

Session Settings(۴

:Session Lifetime

کله چي یو یوزر د جوملې سایټ ته ننوځي، د ټاکلي مودې دپاره که په سایټ کي کار ونه کړي، په اتوماټ ډول دجوملې له سایټ (کنټرول پانل) څخه ایستل کېږي او د ضرورت په وخت بیا اړ دی چي خپل یوزر او پسورډ ورکړي.

د دي وخت د کمولو او زیاتولو دپاره چي



یوزر په کنټرول پانل کي پاته سي، د **Session Lifetime** مخي ته ټاکلی وخت ورکړئ.

**Session Handler:**

آیا د لیدونکو (یوزرز) اطلاعات دي په یوه فایل کي زېرمه سي که د سایټ په دېټابېس کي. د امنیتي دلایلو په مراعاتولو سره که اطلاعات په دېټابېس کي ذخیره سي ، غوره به وي.


***

## سرور Server

څنګه چي یې له نوم څخه څرګنده ده د سرور (Server) ټول تنظیمات له دې ځای څخه ترسره کېږي:


**په هاسټ کي د tmp پوښۍ مسیر(لار):**

دا پوښۍ هغه پوښۍ ده چي د سمبالښتي سیستم موقت فایلونه په کي ذخیره کېږي. د دي پوښۍ ادرس ورکول د سیستم له مهمو اجزاوو څخه شمېرل کېږي. که دا ادرس په سمه توګه ثبت نه سي؛ د دي امکان سته چي سیستم کي نور زیاتوني (پلاګینونه، ماجولونه، کمپونینټونه او..) انستال نه سي.




یادونه : د جوملې ډېر کاروونکي کله چي په جومله کي کوم نوی پلاګین، ماجول ، کمپونینټ او ... انستالوي له ستونزي سره مخامخ کېږي. د دي ستونزي جرړه د tmp په ناسم ادرس ورکولو کي نغښتي ده، نو د دي ستونزي د هوارۍ دپاره غواړم لړه نوره رڼا باندي واچوم.

د ۲,۵ جوملې یو ه نسخه له انټرنیټ څخه راکښنته او له زیپ (zip) فایل څخه یې را وباسئ. څنګه چي وینئ د tmp په نوم یوه پوښۍ هم د جوملې د دي نسخې په پوښیو او فایلونو کي ستون لري.



چي همدا پوښۍ د جوملې د انسټالېشن پر وخت ستاسو پر سايټ جوړېږي. د مثال په ډول فرض کړئ چي تاسو جومله په خپل کمپيوټر کي د Easy Php  په ذريعه انسټال کړې وي،نو دلته به د tmp پوښۍ پته داسي وي :

C:\Program Files\EasyPHP-12.1\www\tmp

خو کله چي په سي پانل (Cpanel) کي جومله انسټالېږي، ادرس يې دا ډول وي :

/home/your_Domain/Public_html/tmp

***

## د غونډ وېب سايټ څخه «بک اپ» اخيستل

د غونډ وېب سايټ څخه  «بک اپ» اخيستل له څو لارو شونی دی، خو دلته يې د سي پانل (Cpanel) طريقه په ډېر وضاحت سره ښودل سوې ده.

هر وېب سايټ چلوونکی او ډيزاينر بايد د وېب سايټ «بک اپ»(Backup) اخيستو په لارو چارو ښه وپوهېږي او په هرو څو وختونو د سايټ «بک اپ»واخلي؛ ځکه چي که يو وخت سايټ د کوم

دلیل له امله له منځه لاړ یا غیر فعال سي، نو په داسي صورت کي بیا کولای سئ خپل د بک اپ همدي ډومین کي یا په کوم بل سایټ (ډومین) کي پورته او د خپل سایټ مطالب بیرته لیدونکو ته پرلیکه کړئ.

د«بک اپ»اخیستو دپاره لاندي لاربښود ته ځیر سئ:

1. خپل د سایټ د ادرس وروسته Cpanel ټایپ او د انټر تڼۍ کښېکاږئ.

بېلګه :





http://www.yourdomainname.com/cpanel

2. دلته د Yourdomainname پرځای خپل د سایټ نوم ورکړئ.

تاسو ته یوه کړکۍ په لاندي ډول را ښکاره ږي، په دي کړکۍ کي د یوزر په ځای کي خپل د سایټ کارن نوم او د پسورډ په ځای کي یې شفر ورکړئ او د Log in تڼۍ کلیک کړئ.


3. تر Files لاندي خانګه کي د Backups آیکن پیدا کړئ او کلیک پر وکړئ.




4. دلته د ځو


بېلابېلو انتخابونو سره مخامخ کېږئ؛ کولای سئ د MySQL ډېټابیس ریستور (بیرته پر خپل ځای راوړئ)کړئ؛ کولای سئ کومه ډایرکټوری(Directory) یا هم ایمیل اړوند فایلونه ریستور کړئ.

دا چي لاربښود د «بک اپ»اخیستو دی، نو یوازې د Download or Generate a Full Web Site Backup تنۍ کښېکاږئ، تر څو تاسو ته د بشپړ وېب سایټ د محتویاتو «بک اپ»کاپي د کښته کولو زمینه برابره کړي.




5. دلته د بشپړ ویب سایټ د فایل کښته کولو دپاره د Generate Backup تنۍ ته زور ورکړئ.

د Backup Destination مخې ته د «بک اپ»مقصد وټاکئ؛ بېلګه Home Destination د Email Address په ځای کې دخپل برېښنالیک پته ورکړئ ؛ کله چې «بک اپ»بشپړ سي تاسو ته د همدې ایمیل په مټ خبر درکول کېږي.خبر کې به تاسو ته اطلاع درکړي چې ستاسو د بک اپ دپاره لینک (پیوند) چمتو شوی دی، کولای سئ خپل «بک اپ»د هغه په کښېکاږلو کښته (ډاونلوډ) کړئ.




6. که د سایټ محتویات لږ وي، د کښته کولو لینک یې ژر چمتو کېږي او که ډېر وي یو څه وخت نیسي؛ د Go Back تڼۍ کښېکاږئ، تر څوچي مخکینۍ صفحې ته ستانه سئ.په دې پاڼه کي تاسو ته د «بک اپ»فایل د کښته کولو لینک ښیي. د هغه په کښېکاږلو سره خپل د کمپیوټر په کوم خوندي ځای کي یې زېرمه کړئ.




یادونه : په جوملې اړوند دېټابېس «بک اپ» فایل په ورته طریقې کښته کولای سئ.


***

## په جوومله کې د نوې ټیمپلیټ انسټالول


لومړی : د جوملې وېب سایټ و کنټرول پانل ته ننوځئ.

دوهم : تر ننوتلو وروسته Extension ښخه پر Extension Manager کلیک وکړئ.

درېیم : د انسټال (Install) پر تڼۍ کلیک وکړئ.




څلورم : تر Upload Package File لاندې د Browse پر تڼۍ کلیک وکړئ او نوی ټیمپلیټ انتخاب کړئ او د Upload & Install تڼۍ کلیکه کړئ.



پنځم : کله چي ټيمپليټ انسټال سي لاندي ډول پيغام ښودل کيږي.

Installing Template was Successful

## د انسټال سوي ټيمپليټ ايډيټول

لومړی : د جوملي وېب سايټ وکنټرول پانل ته ننوځئ.

دوهم : په پاسنۍ مېنو کي لومړی Extensions ته او وروسته پر Template Manager کليک وکړئ.

دريم : Templates انتخاب کړئ.

څلورم : په انسټال سويو ټيمپليټونو يو ليست به درته وښودل سي، له دې ليست څخه هر ټيمپليټ چي غواړئ ايډيټ کړئ ، څنگ ته يې د Details and Files کليک کړئ.




پنځم: د ټيمپليټ د فايلونو يو ليست ښودل کيږي، له دې ليست څخه هر فايل چي غواړئ ايډيټ يې کړئ، انتخاب يې کړئ، تر انتخاب وروسته به ياد فايل کوډونه په نوې کړکۍ کي پرانيستل سي.

د ايډيټ لپاره تاسو بايد په HTML، CSS او نورو کارسويو کوډونو باندي پوه سئ.د کتاب په وروستۍ برخه د HTML په اړه بيان سوی دی.

# د اچ ټي ام اِل اساسات

# A Basic Guide of HTML

# لومړی څپرکی

## First Chapter

له دې څپرکي څخه به تاسو د لینیر میډیا (Linear Media) او هایپر میډیا (HyperMedia) داصولو ترڅنګ د HTML او هغه کي د اساسي لاسوند (Document) د جوړولو اساسات زده کړئ .

د لومړي څپرکي سرلیکونه:

۱- د لینیر او هایپر میډیا توپیر

۲- د ایچ ټي ایم ایل (HTML) تعریف

۳- د یوه لاسوند (Document) بنسټیز جوړښتونه

۴- دسرۍ (Header) فرعي عناصر

# لینیر میډیا

## (Linear Media)

لینیر میډیا (Linear Media) هغه اصطلاح ته ویل کېږي چي له لومړۍ کړۍ څخه پیل بیا په مسلسل ډول خپله اجرائي پروسه سرته ورسوي ؛ په دې مانا چي له پیل څخه بیا تر پایه پوري په پرله پسې توګه خپله لاره ووهي.

ددې ډول رسنۍ ښه بېلګه پخواني ویډیویي فیلمونه دي. کله چي مو غوښتل له یوې صحنې څخه تېر او بلې صحنې ته ولاړسو، اړ وو چي تر هغې صحنې پوري په پرله پسې ډول منځني صحنې تېري کړو او بیا وروسته خپل ټاکل سوي صحنې ته رسېدو؛ دا ډول رسنۍ دا مهال له زړو رسنیو څخه ګڼلې کېږي.

## هایپر میډیا

## (HyperMedia)

**هایپر میډیا (Hyper Media) له نویو تکنالوژیو څخه شمېرله کېږي ،دغه میډیا اشخاصو ته دا اختیا ر ورکوي چي دیوې رسنۍ هره برخه چي یې خوښېږي هغه بېله داچي خپل وخت پر ضایع کړي ویې ګوري ؛ د بېلګي په توګه: کله چي یوه انځوریزه (ویډیو) سي ډي ګورئ نو په ډېره اسانۍ سره کولای سئ له لومړۍ سندري څخه تېر او د سي ډي وروستۍ سندره وړغوئ (پلې کړئ) ؛ یعني دې ته ضرورت نسته چي د وروستۍ سندري د ړغولو دپاره باید ګام په ګام له نورو سندرو تېر او بیا هغه پلې کړئ.**

## HTML وڅه ته وايي ؟

## What is HTML Markup?

**HTML ؛ دمنطقي کوډونو یوه مجموعه ده چي دبراکټونو (< >) ترمنځ راځي او د یوې وېب پاڼي دجوړېدو او دهغې دمالوماتو دښودلو دپاره کارېږي.**

**دبېلګي په ډول :**

**<B> غبرګ متن دپاره کارول کیږي </B>**

**لکه مخکي چي یادونه وسوه ، د HTML کوډونه د کوچنۍ نښي (>) او لویي نښي(<) په منځ کي راځي .**

**د همدې براکټونو په منځ کي کوډونو ته ټګ (tag) وايي .**

**په تلواله توګه(Default) د اچ ټي ام ال ټول کوډونه د براکټونو تر منځ وي. سربېره پر دې نوموړي کوډونه کېس سینزیټیو (Case Sensitive) نه دي ؛ په دې مانا که په هرډول تورو یې ولیکئ کار کوي، که په لویو تورو وي که کوچني .**

**بېلګه :**

**<HTML>**

**<html>**

<HtMl>

<HTml>

دغه ټول یو کار کوي ؛ دافرق نه کوي چې هرومرو دي کوچني ولیکل سي یا لوی ، خو ددې دپاره چې کوډونه په ښه توګه د نورو کلماتو څخه توپیرسي ، دوېب سایټ جوړوونکي یې په غټو تورو لیکي .

د HTML ډېری عناصر له دووبرخو څخه جوړشوي دي:

پرانیستل سوی ټګ <TAG>

بندېدونکی ټګ </TAG>

دپرانیستل سوي ټګ او بندېدونکي ټګ ترمنځ توپیر یوازي د «سلش» په نښه (Slash) کي دی .

Element: کوم کرکټر چې د براکټونو (< >) ترمنځ راځي هغه ته عنصر یا (Element) وایي. عنصر یوه بولۍ ده چې د بروسر (Browser)په وسیله دیوې صفحې د ښودني دپاره کارېږي .

بېلګه : <Font> دلته د Font لغت عنصر بلل کیږي خو کله چې دواړه عنصر(ونه) او براکټونه سره یوځای سي هغه ته ټګ (Tag) وایي .

Attributes: - هغه لغاتو ته ویل کیږي چې دیوه عنصر دپاره دصفاتو ښودنه وکړي. صفات (Attributes) په پرانیستل سوي ټګ کي استعمالیږي ، او هیڅ کله بندېدونکی ټګ کي ورڅخه کار نه اخیستل کېږي.

آیا په دې پوه نسواست؟ خیر دی، یوه بېلګه به درته وړاندي کړم :

یوموټر ځان ته بېلابېل صفات لري؛ لکه: رنګ، سرعت، اندازه او داسي نور.

دلته دموټر دپاره رنګ، سرعت ، اندازه او ... ټول صفات (Attributes) ګڼل کېږي او پخپله موټر دلته (Element) یا عنصر دی .

رنګ، اندازه او سرعت یې صفات (Attribute ) دي .

د (Attributes) د کارولو دپاره ، یوازي کافي ده چې د عنصر نه وروسته یوه فاصله واخلئ او بل د مساوي نښه ورسره وکاروئ ؛ د یوه Attribute قیمت (Value) باید د اقتباس منځ کي راسي .

بېلګه :

<FONT COLOR="BLUE"> زما لیک دي شین رنګ ولري</FONT>

دپورتنۍ بېلګي شننه:

Font یو عنصر دی.

Color یو صفت یا Attributeدی.

Blue د Attribute قیمت دی چي د اقتباس ترمنځ راغلی دی.

زیات HTML عنصرونه له یوه Attribute څخه ډېر صفات لري .

بېلګه :

<FONT COLOR="BLUE" SIZE="+1"> دلته خپل دخوښي وړ متن ولیکئ</FONT>

ددې بېلګي شننه :

Font عنصر (Element) دی.

Color او Size د Font صفات (Attributes) دي.

Blue او +1 دصفاتو دپاره قیمتونه دي چي د اقتباس ترمنځ راغلي دي.

## دلاسوند جوړښت (Document Structure)

په بروسر کي د HTML د عنصرونو او صفاتو ښکاره کول ؛ د DTD پر اساس صورت نیسي چي د Document Type Definition لنډیز دئ ؛ دا د قوانینو یوه مجموعه ده چي د کوډونو په کارولو یو لاسوند (Document) جوړیږي .

د HTML دپاره منل سوي منابع او DTD د WWWC شرکت له خوا پرمخ بېول کیږي .

WWWC=World Wide Web Consortium

ددې شرکت ویب پاڼه http://www.w3.org

دهمدې شرکت په وسیله د نویوHTML عنصرونو کار هم ترسره کېږي .

## بنستيز لاسوند (Basic Document)

د HTML عنصر د لاسوند دجوړېدو لومړى عنصر دى ، چي پرانيستل سوى يې په اول او بندېدونكى يې په پاى كي كارول كېږي .

همداعنصر په خپل منځ كي دوه فرعي عنصرونه لري .

HEAD

BODY

دا عنصرونه (html, head, body) ديوه لاسوند دجوړوېدو دپاره هرومرو اړين گڼل كيږي، چي بايد پكښي وكارول سي .

بېلگه :

```
<HTML>
<HEAD>
<TITLE>دلاسوند دپاره سرليک </TITLE>
<BODY> </BODY>
</HTML>
```

دبستيزو ټگونو شننه :

<HTML>: دلاسوند لومړى ټگ دى چي يو يې پرانيستل سوى او بل يې تړل سوى وي ، پرانيستل سوى يې د لاسوند په لومړۍ برخه او بندېدونكى يې د لاسوند په وروستۍ برخه كي كارېږي.

<HTML>: مخ كي وويل سول چي <HTML> دوه فرعي ټگونه لري چي يويې همدا د <HEAD> ټگ دى، ددې ټگ ترمنځ بيا نور ټگونه كارېږي:

<TITLE>: د <HEAD> منځ کي کارېدونکی ټګ دی چي دیوه لاسوند د سرلیک دپاره کار ورڅخه اخیستل کېږي، نوموړی سرلیک د بروسر (Browser) په پورتنۍ برخه چي ورته ټایټل بار (Title Bar) وایي ، ښکاري .

یو سرلیک چي هرڅه واضح وي، ګټه به یې ډېره وي. دا په دې مانا،کله چي تاسو خپله وېب پاڼه پرلیکه کوئ لټون ماشینونه د سرلیک څخه دیو اینډکس (Index) په حیث کار اخلي ، او ستاسو وېب پاڼه ونورو ته ورښکاره کوي .

بېلګه :

```
<HTML>
<HEAD>
        <TITLE> هریوا وېب پاڼه - هرات - افغانستان </TITLE>
</HEAD>
</HTML>
```

<BODY>: د <HTML> فرعي ټګونو له جملې څخه دوهم ټګ دی چي دوېب پاڼي اصلي جوړښت د همدې ټګ ترمنځ ترسره کېږي.

بېلګه :

```
<HTML>
<HEAD>
<TITLE> هریوا - هرات - افغانستان </TITLE>
</HEAD>
<BODY>
دلته د وېب پاڼي د اصلي جوړښت دپاره کوډونه او ټګونه کارېږي
</BODY>
</HTML>
```

**د دې څپرکي څو پوښتنې:**

**۱:- HTML دکومو لغاتو څخه اخیستل سوی دی؟**

**۲:- Element (عنصر) څه ته ویل کېږي ؟**

**۳:- دیوه عنصر (Element) صفات (Attributes) څه ته وایي؟**

**۴:- د HTML درې اساسي عناصر کوم دي ، نوم یې واخلئ ؟**

**۵:- کوم عناصر د (HEAD) ټګ تر منځ راځي؟**

# دوهم څپرکی

په دې څپرکي کي ؛ به تاسو د HTML د صفحې د جوړولو او د اچ ټي اِم ال کوډونو دپاره د غوره ایډیټر ټاکل زده کړئ.

دڅپرکي سرلیکونه :

د متن سمونکی (Text Editor) ټاکل

د یوه لاسوند (Document) جوړول

دصفحې په ځانګړتیاوو پوهېدل

بروسرونو (Browsers)کي د خپل کار د پایلو لیدنه

## دسمونکي ټاکنه

## (Selecting Editor)

دوېب سایټ د جوړېدو دپاره بېلابیل پروګرامونه سته، چي هریو یې ځان ته خپلي ځانګړتیاوي لري .د HTML کوډونو د لیکلو دپاره بېلابیل«ایډیټر» پروګرامونه سته، چي دغه دوه ډولونه یې اوسمهال شتون لري :

۱:- یو ډول یې ډېر  ساده پروګرامونه دي چي ټول کوډونه د لاس په مټ پکښي ټایپېږي.
بېلګه یې د وینډوز چلیز سیستم (Windows Operating System) د نوټ پډ (Notepad) سمونکی دی .

۲:- بل ډول يې هغه دی چي ډېري آسانتياوي يې په نظر کي نيولي دي او د دې اړتيا پکښي نسته چي ټول کوډونه دي په هغه کي وکارول سي .
بېلگه يې دمايکروسافټ آفيس (Microsoft Office) له پروگرامونو څخه د «پرانټ پيچ» پروگرام دی .

د دې څپرکي په پای کي به د html کوډونو د ليکلو دپاره نامتو او د کار وړ سموونکو يو لړليک درته بيان سي .
يادونه : د ښې زده کړي دپاره په وينډوز کي د سته سموونکي(Notepad) څخه کار واخلئ .

## دنوټ پډ کارونه

## (Working With Notepad)

نوټ پډ (Notepad) د مايکروسافټ ستندارد سموونکی دی چي په ۱٦ ، ۳۲ او پورته بيټ لرونکو چليز سيستمونو کي کار کوي. د پروگرام دخلاصو لو دپاره :

۹۸ چليز سيستم کي :

۱- پر Start مېنو کليک وکړئ.

۲- له خلاصي شوي کړکۍ څخه پر Program او بيا پر Accessories کليک وکړئ .

۳- اوس د Notepad نومي پروگرام کليک کړئ ترڅو درته پرانيستل سي .

XPچليزسيستم دپاره:

۱- پر Start مېنو کليک وکړئ .

۲- All Programs او بيا Accessories او له هغه ځايه پر Notepad کليک وکړئ ترڅو نوموړی سموونکی (Editor) درته خلاص سي .

د نوټ پډ د خلاصولو دپاره لنډه لاره :

۱:- له کيبورډ څخه د Ctrl+R تنۍ کښېکاږئ .

۲:- د Ctrl+R پر کښېکاږلو تاسو ته د Run کړکۍ خلاصیږي .

۳:- د خلاصي سوي کړکۍ په متن ځای کي Notepad کلیمه ټایپ او د Ok تڼۍ کښېکاږئ.

**د بنسټیز لاسوند جوړونه (Creation of Basic Document)**

څرنګه چي په لومړي څپرکي کي یادونه وسوه ، دیوه بنسټیز لاسوند د جوړښت دپاره څو مشخص عنصرونه شتون لري.د دې دپاره چي یوه وېب پاڼه جوړ ه کړئ ، اړیاست چي د HTML کوډونه د صفحې په کوډ مخ (Code Page) کي ولیکئ . ترټولو ډېره اسانه لاره ددې دپاره چي نوموړي کوډونه وکاروئ ، ښه به داوي چي هر پرانیستونکي ټګ وروسته یې دبندېدو ټګ ټایپ کړئ ، دبېلګي په ډول کله چي تاسو د <HTML> ټګ ټایپوئ ، هم هغه وخت یې د بندېدو ټګ </HTML> هم ټایپ کړئ.

څرنګه چي کوډونه ډېریږي صفحه یو څه پېچلې کېږي ، نو په داسي وخت کي بیا د صفحې کنټرولول هم څه ګران کار وي ، او دابه ګرانه وي ، چي دیوه پرانیستونکي ټګ دپاره د هغه د بندېدو ټګ پیداسي او بیا دي اصلا ح سي. نو دپورتني کار په کولو سره به ترډېره ددې ستونزي څخه موږ راوګرځو ، ځکه دابه مالومه وي چي هر کوډ په سمه توګه کارول سوی دی .

په «نوټ پډ» کي د لومړي ځل دپاره دغه کوډونه ټایپ کړئ:

```
<HTML>
<HEAD>
        <TITLE> </TITLE>
</HEAD>
        <BODY>
        </BODY>
</HTML>
```

ددې کوډونو شننه :

دپرانیستونکي <HTML> ټګ او د بندېدونکي ټګ </HTML> ترمنځ د هغه دوه فرعي ټګونه چي <HEAD> او <BODY> دي، کارول سوي دي .

د <HEAD> ترمنځ ټګونو کي د <TITLE> او </TITLE> ټګ دی، چي تاسو يې منځ کي دوېب سايټ دپاره سرليک ورکوئ. البته دهمدې سرليک په مټ يو وېب سايټ د لټون ماشينونو په ذريعه پېژندل کېږي.نوموړی سرليک دبروسر (Browser) په سرکي د <TITLE BAR> په برخه کي راځي ، او هر کله چي څوک وغواړي ستاسو وېب پاڼه بوک مارک (Bookmark) کړي د همدې سرليک په نامه ذخيره کېږي .

کوم متن چي تاسو يې د سرليک <TITLE> دپاره کاروئ، ترډېره کوشش وکړئ چي مالوماتي بڼه ولري ،ځکه داهغه متن دی چي لټون ماشيونونه (Search Engines) يې دلړيال (Index) په توګه کاروي او هرکله چي يو څوک ستاسو وېب پاڼه په لټون ماشين کي لټوي، نو که د هغه متن د دې سرليک سره سمون وخوري ، نوموړې وېب پاڼه به د لټون ماشين په لټول سويو پايلو کي راولي.

دسرليک <TITLE> ټګ دپاره يوه بېلګه :

```
<HTML>
<HEAD>
        <TITLE> Hariwa Website, Herat Afghansitan, Pashto Computer
Learning, Microsoft Office, Pashto,Pashton, Kabul </TITLE>
</HEAD>
<BODY>

</BODY>
</HTML>
```

***

## د لاسوند د ځانتیاوُ تنظیمات (Setting Document Properties)

دلاسوند ټولي ځانتیاوي د هغه د صفاتو (Attribute) په وسیله کنټرولیږي، او داټول د BODY عنصر ترمنځ استعمالیږي .

دبیلګي په ډول :

د شامځکي (Background) دپاره د رنګ صفات شتون لري چي د هغه په وسیله ټوله شامځکه رنګ اخلي .

## د رنګونو کوډونه (Color Codes)

HTML کي رنګونه د RGB پر اساس لیکل کیږي ؛ چي د Hexadecimal(شپاړس شمېریز سیستم) شخه یې جوړښت موندلی دی، اچ تي ام ال کي هر رنګ له شپږو تورو او اعدادو شخه چي تر مخه یې د شمېرې (#) نخښنه کار سوې وي؛ کاریږي او هر رنګ یې له درېو رنګونو شخه متشکل وي، چي عبارت دي له: RGB

بېلګه : #RRGGBB

← B یې د شین رنګ دپاره (BLUE)

← G یې د زرغون رنګ دپاره (Green)

← R یې د سره رنګ دپاره (Red)

لاندي د اړینو رنګونو یو کوچنی جدول درکړل شوی دی.

| پښتو مانا | کوډ | RGB COLOR |
|---|---|---|
| سپین | #FFFFFF | White |
| تور | #000000 | Black |
| سور | #FF0000 | Red |

| | | |
|---|---|---|
| Green | #00FF00 | زرغون |
| Blue | #0000FF | شين |
| Yellow | #FFFF00 | ژیړ |
| Magenta | #ff00ff | شیر چایي |
| Orange | #ff7f00 | نارنجي |
| Pink | #ff6ec7 | گلابي |

ددې څېرکي په پای کې درنگونو یو لوی لیست د یو جدول په ډول درته چمتو سوی دی.

د رنگونو دپاره تاسو و دې وېب پاڼې ته هم سر ورښکاره کولای سئ .

http://www.vgdesign.com/color.html

## د BODYعنصر

BODY عنصر د صفحې د ښودلو مهم عنصر گڼل کېږي. له دې عنصر سره گڼ شمېر نور صفات هم کارېدای سي ، د بېلگي په توگه :

- د شامځکي د رنگولو صفت.

- شا مځکي ته د انځور کارولو صفت.

-د متن د رنگولو صفت

-پیوندونو (لینکونو) دپاره د رنگ ټاکل ... او داسي نور صفات.

که د BODY عنصر خالي کار سي یعني کوم صفات ورسره نه وي کار سوي دانټرنیټ بروسر یې په تلواله (Default) توگه رنگ وربدلوي. په پخوانیو بروسرونو (Browsers) کي که د BODY عنصر ته کوم صفت نه وي ورکړل سوی شا ځمکي رنگ یې په سپک خړ رنگ ښیي.

خو دانټرنیټ ایکسپلورر (Internet Explorer) او نیټ سکېپ (Netscape) له ځلورمي نسخې راپه دې خوا که BODY عنصر دپاره د شامځکي صفت نه وي کارسوی ، په تلواله توگه یې سپین رنگ ته اړوي .

## شامځكي دپاره د رنګ ټاکل ( Background Color)

و شامځكي ته د رنګ ورکولو يوه بېلګه :

<BODY BGCOLOR="#FF0000"></BODY>

دلته Bgcolorد BackGround Color مفهوم ورکوي.

## د متن دپاره د رنګ ټاکل ( Text Color)

په تلواله توګه بروسر (Browser) دمتن درنګ دپاره تور رنګ ښيي. كه غواړئ د خپلو مطالبو د متن و رنګ ته تغيير ورکړئ ، له Text صفت (Attribute) څخه كار واخلئ .

بېلګه :

<BODY BGCOLOR="#FF0000" TEXT="FFFFF"></BODY>

ددې بېلګي شننه :

- ددې صفحې شا مځكه سره او متن يې سپين دی .

کوشش وکړئ چي د شا مځكي او د متن رنګ يو دبل په تضاد كي واقع وي .

## LINK, VLINK او ALINK پيوندونه

په وېب پاڼه كي كېداى سي پيوندونه (Links) هم استعمال سي، پيوند هغه وخت استعماليږي چي له يوې صفحې څخه بلي صفحې يا د يوې صفحې له يوې برخي څخه بلي برخي ته تلل وغواړئ .

د پيوند څخه په دې لاندي مواردو كي كار اخيستل كيږي :

- له يوې صفحې څخه بلي صفحې ته
- د صفحې له يوې برخي څخه بلي برخي ته
- له يوې وېب پاڼي څخه بلي وېب پاڼي ته د تللو دپاره
- دبرېښناليک دپتې دتړاو دپاره

- ← د یو فایل  د کښته کولو دپاره
- ← دیوې زیپ سوي پوښۍ (فولډر) دکښته کولو دپاره
- ← د پوستکالي (Software) د کښته کولو دپاره
- ← د انځورونو د کښته کولو  ... او داسي نورو مواردو دپاره له پیوند څخه کار اخیستل کیږي.

دغه لاندي صفات (Attributes) د بېلابیلو پیوندونو ، رنګونه کنټرولوي :

- ← LINK: د یو پیوند لومړنی حالت ، چي په تلواله (Default) توګه شین رنګ لري .
- ← VLINK: د Visited Link څخه اخیستل سوی دی ، کله چي پر پیوند کلیک کوئ هغه پیوند ته Visited Link وایي ، دا لینک (پیوند) هم په تلواله توګه ارغواني رنګ ځان ته اخلي.
- ← ALINK: د Active Link څخه اخیستل سوی دی و دې ډول پیوند ته کلیک سوی پیوند وایي، یعني هغه وخت چي پر یوه پیوند باندي کلیک شوی وي ، هغه ته Active Link یا فعاله پیوند وایي. په تلواله توګه ددې پیوند رنګ سور (Red) وي .

بېلګه :

```
<BODY BGCOLOR="#FF0000" TEXT="#FFFFFF" LINK="#000000"
VLINK="#0000FF" ALINK="#00FF00">
```

دپورتنۍ بېلګي شننه :

- ← د صفحې ټوله شا مځکه سره (Red) کوي .
- ← کوم متن چي په صفحې کي کاریږي ، د هغه رنګ به سپین وي .
- ← د تلواله (Default) پیوند رنګ به تور وي .
- ← د کلیک کولو  پیوند رنګ به شین (Blue) وي .
- ← د کلیک سوي پیوند رنګ به زرغون (Green) وي .

***

## د شامځکي د پاره د انځور ټاکل

ځنګه چي مو مخکي ولوستل چي څه ډول و شامځکي ته رنګ ورکوو، دلته به دا زده کړو چي ځنګه يو انځور د شامځکي په توګه کارولی سو. د انځور د کارولو دپاره د Background صفت (Attribute) کاريږي کوم چي د شامځکي د رنګ دپاره د BgColor صفت کارېده. نوموړی صفت هم د BODY عنصر په منځ کي کارېږي .

د شامځکي (Background) انځورونه د (Tiled) بڼه ځان ته نيسي، په دې ماناچي په تکراري ډول راځي او موخه يې هم داده چي ټوله صفحه ونيسي.

کوم انځور چي تاسي کاروئ ؛ کوشش وکړئ ترڅو سپک او وروستاړی يې gif او يا هم jpeg وي ، په دې هکله دکتاب په راتلونکو برخو کي توضيح ورکړل سوې ده .

يوه بېلګه :

<BODY BACKGROUND="logo.gif" BGCOLOR="#FFFFFF">

دې مثال کي، موږ د شامځکي (Background) دپاره د logo انځور چي وروستاړی يې gif. دی کارولی ، او په دې سربېره مو د شامځکي دپاره سپين رنګ هم ورکړی، داپه دې خاطر، کله چي صفحه راخلاصيږي د شامځکي انځور يوڅه په ځنډ راولي ، ترڅو نوموړی انځور د شامځکي دپاره راځي د شامځکي رنګ به سپين (چي موږ دلته استعمال کړی دی ) وي .

يو څه نو ر........

د شامځکي (Background) دپاره څو اړيني ټکي:

← کله چي د شامځکي دپاره يو انځور ټاکئ؛ کوشش وکړئ چي داسي انځور وټاکئ چي دمتن سره په تضاد کي واقع وي ، يعني داسي نه وي چي د انځور او متن رنګ مو يو وي .

← د شامځکي دپاره داسي رنګ وټاکئ چي د سترګو دپاره ضرر رسوونکی نه وي. ځيني کسان ډېر تېره رنګونه کاروي، چي دا په خپله د سترګو په زيان تمامېدای سي.

## د خپل کار مخليدنه

## Previewing Your Work

کوم وخت چي تاسو خپل د لاسوند شامځکي ته بېلابيل صفات وکارول ، ددې دپاره چي عملي بڼه يې ووينئ ښه به وي چي نوموړی؛ ديوه فايل په بڼه ذخيره کړئ .

داچي تاسو نوموړی فايل د انټرنيټ پاڼو دپاره غواړئ نو بايد داسي فورمټ (Format) ورته وټاکئ چي د انټرنيټ پاڼو دپاره وي .

تاسي کولا ی سئ دغه بڼي (Formats) د خپل فايل لپاره وټاکئ .

← ".htm" د ستندارده صفحو لپاره کوم وروستاړی چي ترډېره کاريږي همدا ".htm" وروستاړی دی.

← ".html" بعضي وېب ډيزاينوونکي له دې فورمټ څخه کار اخلي، خو نوموړی فورمټ په بعضي چاپېريالونو کي په سمه توګه کار نه کوي.

موږ ترډېره په دې کتاب کي له (.htm) فورمټ څخه کار اخيستی دی.

## نوټ پډ کي د فايل زېرمه کول

١- پر File مېنو کليک کړئ .

٢- له ځرګندې سوي مېنو (Menu) څخه پر Save As نومې کمانډ کليک وکړئ .

٣- File Name په برخه کي د فايل دپاره يو نوم ټايپ کړئ .

(د فايل د نوم ورکولو وروسته د .htm يا .html وروستاړی ورکړئ )

په دې ډول : index.html

په نوټ پډ کي تاسو اړپاست  چي د نوم ورکولو وروسته ورته يو وروستاړی (Extension) هم ورکړئ ، که نه ستاسو فايل به نوټ پډ ديوه متني فايل په توګه ذخيره کړي .

## د زېرمه سوي لاسوند  (Document) ليد ل، ايډيتول او بيرته ذخيره کول

اوس چي مو خپل فايل ذخيره کړ، بايد هغه ووينئ ، ددې کار دپاره دلته تاسو ته ددوو بروسرونو (Browsers) په وسيله دفايل دخلاصولو لارښوونه کوو.

لومړی  :  Netscape Navigator

دويم : Microsoft Internet Explorer

ددې دپاره چي خپل دکار مخليدنه وکړئ يو بروسر خلا ص کړئ .

### په  Netscape Navigatorکي :

١- د File مينو خلاصه کړئ .

٢-  دخلاصي سوي کړکۍ څخه پر Open Page کليک وکړئ ، چي کړکۍ څرګنده سي .

٣- له  Open Page کړکۍ څخه پر Choose File تڼۍ زور راوړئ او خپل زېرمه سوی فايل وټاکئ .

۴- پس له داچي  فايل وټاکل سو د  Openتڼۍ کښېکاږئ چي نوموړی فايل درته خلاص کړي .


### په انټرنيټ ايکسپلورر (Internet Explorer) کي :

١- انټرنيټ ايکسپلورر بروسر (Browser) خلاص کړئ .

٢-  پر File مينو ټک وکړئ .

٣ - له خلاصي سوي مينو څخه پر Open کمانډ کليک وکړئ .

۴- له Open کړکۍ څخه پر Browse تڼۍ زور راوړئ او خپل ذخيره سوی فايل وټاکئ ، دټاکلو وروسته دخلاصولو دپاره يې پر OK تڼۍ کليک راوړئ .



د ذخیره سوي فایل تر خلاصولو وروسته کولای سئ ایډیټ او بیا یې بیرته ذخیره کړئ .
ددې دپاره چي ستاسو کار آسانه وي خپل فایل مه تړئ . کله چي خپل دفایل په کوډ مخ (Code Page) کي کار کوئ خپله انترنیټ پاڼه وړه (Minimize) کړئ. کله چي مو کوډونو ورزیات کړل یو ځل پر Save کلیک وکړئ؛ ستاسو صفحه به زېرمه سي، او د انترنیټ پاڼي له پورته برخي څخه پر Refresh کلیک وکړئ چي ستاسو د ورزیات سویو تغییراتو ښودنه وکړي.
ښکه چي د ځېرکي په لومړیو کي یادونه سوې وه، چي د رنګونو بشپړ لیست به د ځېرکي په پای کي راوړو، دا یې تاسو او دا یې لیست.

## د رنګونو لښتلیک

**یادونه: په کتاب کي ټول رنګونه توراو سپین چاپ سوي دي، که غواړئ چي هر رنګ په خپل شکل وګورئ، دا ویب سایټ وګورئ.**

**http://www.w3schools.com/html/html_colors.asp**

| درنګ نوم | کوډ | رنګونه |
|---|---|---|
| AliceBlue | #F0F8FF | |
